# دکلیفټن څلوردیرش ځواکونه

پلټنه: رحمت شاه فراز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ


 څو خبرې تر خبرو 6

پېژندنه 9

الف) د ستراتیژیک تفکر اړوند ځواکونه(STRATEGIC THINKING) 10

۱- تحلیلي (ANALYTICAL) 10

۲- متن محوري (CONTEXT) 11

۳- راتلونپاله (FUTURISTIC) 12

۴- تخیل (IDEATION) 13

۵- ټولوونکی (INPUT) 14

٦- تعقل (INTELLECTION) 15

۷- زده کوونکی (LEARNER) 16

۸- ستراتیژیک (STRATEGIC) 17

ب) د اړیکو جوړونې اړوند ځواکونه(RELATIONSHIP BUILDING) 18

۱- تطابق (ADAPTABILITY) 18

۲- اتصال (CONNECTEDNESS) 19

۳- وده ورکوونکی (DEVELOPER) 21

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴- همدلي (EMPATHY) 22

۵- هماهنګي (HARMONY) 23

٦- راګډوونکی (INCLUDER) 24

۷- فرد ګرايي (INDIVIDUALIZATION) 25

۸- مثبت ګرايي (POSITIVITY) 26

۹- رابط (RELATOR) 27

ج) د اغېز ښندنې اړوند ځواکونه(INFLUENCING) 29

۱- فعال (ACTIVATOR) 29

۲- امر (COMMAND) 30

۳- افهام و تفهیم (COMMUNICATION) 31

۴- سيالي (COMPETITION) 32

۵- لویوونکی (MAXIMIZER) 33

٦- خود اطميناني (SELF-ASSURANCE) 34

۷- اهمیت (SIGNIFICANCE) 35

۹- په نورو ګرانښت (WOO – WINNING OTHERS OVER) 37

د) د سرته رسونې اړوند ځواکونه(EXECUTING) 38

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- لاسته راوړونکی (ACHIEVER) 38

۲- ترتیبوونکی (ARRANGER) 39

۳- اعتقاد (BELIEF) 40

۴- ثبات (CONSISTENCY) 41

۵- سنجیده (DELIBERATIVE) 42

٦- ډیسپلین (DISCIPLINE) 43

۷- تمرکز (FOCUS) 45

۸- مسؤلیت (RESPONSIBILITY) 46

۹- احیا کوونکی (RESTORATIVE) 47

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څو خبرې تر خبرو

قاسم علي شاه په خپله يوه وينا کې د «کليفټن څلوردېرش ځواکونو» په نوم د يوې سکالو يادونه وکړې او ورپسې زياته کړې، چې دغه څلوردېرش ځواکونه يې په خپل کتاب «اپني تلاش» کې مفصل تشريح کړي دي. د «کليفټن ځواکونو» په هکله لومړی ځل د شاه صيب له خولې خبر شوم او بيا مې د هغه په کتاب کې ابتدايي اشنايي ورسره جوړه شوه. موضوع مې خوښه شوه، نو په زړه کې مې اراده وکړه، چې دغې موضوع ته په پښتو ژبه کې هم اړتيا شته او بايد وژباړل شي.

سره له دې چې قاسم علي شاه ياده موضوع په ډېر غوره ترتيب سره په خپل کتاب کې ځای په ځای کړې ده، خو د ترجمې يا ليکوالۍ په ډګر کې د قاسم علي شاه په اړه زه ډېر زيات ډاډمن نه يم او د شاه صيب په ځينو کتابونو کې له داسې خبرو سره مخ شوی يم، چې کله مې يې اصل کتلی، نو ډېر زيات توپير مې پکې محسوس کړی. مثلاً په همدې موضوع کې هم د دې په ځای چې د کليفټن هر تيم (theme) يو ځواک يا استعداد وګڼي، د شخصيت کلمه يې ورته کارولې او هر تيم يې په داسې ډول تشريح کړی، ګواکې د شخصيت يو ډول اوسي. له همدې امله زما زړه وو، چې دغه موضوع به پښتو ژبې ته ژباړم، خو پلټنه به پخپله پسې کوم او هڅه به کوم، چې د ډان کليفټن خبره په دقيق ډول پښتنو لوستونکو ته ورسوم.

خبره به نوره هم وغځوم. خو يو مهم ټکی دا دی، چې د قاسم علي شاه په باره کې زما پورتنۍ «بې اطميناني» زما خپله مشاهده او مطالعه ده؛ ممکن بل څوک دغه نظر ډېر کلک رد کړي. او بله خبره دا ده، چې تر ننه پورې زه قاسم علي شاه ته د خپل فکري مشر او لارښود په سترګه ګورم او له زړه ورته درناوی لرم. داسې ورځې به کمې وي، چې زه د قاسم علي شاه وينا وا نه ورم؛ او داسې ورځې خو ډېرې وي، چې په ساعتونو، ساعتونو د قاسم علي شاه ويناوې اورم او په خپل روح و روان يې ژور اغېز محسوسوم.

خو علمي کارونه دقت غواړي او زه په دغه برخه کې د عبدالشکور رشاد په هکله د هغې مشهورې شوې خبرې، چې مازې «بسم الله» به يې هم په يوه معتبر کتاب کې کتله، بيا به يې ليکله، ډېر زيات معتقد يم. البته د دې خبرې دا معنا نه ده، چې زما کار تېروتنې نه لري، بلکې هدف يوازې دا دی، چې دقت مې خوښ دی او تر خپله وسه دقت مراعتوم.

د دغې موضوع د ژباړې کار د يادې «بې اطميناني» او د «خپلې پلټنې» د ارمان له امله همداسې پاتې شوه او څو مياشتې پرې تېرې شوې. خو پام مې هغه وخت ور واوښته، چې په فيسبوک کې د استعدادونو او ځواکونو په اړه يوه ليکنه مخې ته راغله او له دې سره مې خپل پخوانی ارمان بېرته ذهن ته راغی. نو؛ دا ځل مې ورته نيت وتړه او پخپله مې «پلټنه» پسې پيل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نېکه مرغه لومړی د ګالوپ شرکت، چې ډان کلیفټن یې مشر دی، خپله ویبپاڼه مخې ته راغله، چې د کلیفټن څلوردېرش ځواکونه یې په ډېر مفصل، ساده او اسانه ژبه تشریح کړي وو. د دغې ویبپاڼې له لیدو وروسته مې احساس کړه، چې اوس کار اسانه شو.

خو ما نه غوښتل، چې کار مې دومره اسانه شي او ویبپاڼه مخې ته ونیسم او ژباړه یې پیل کړم. ومې ویل، چې له ځینو نورو ماخذونو هم باید استفاده وکړم او دغه موضوع له ډېر تفصیل او معلوماتو سره را ټوله کړم.

په دې اساس، د هر ځواک د پېژندنې لپاره مې د (gallup.com) ویبپاڼې لنډه پېژندنه را وژباړله. ورسره د دغه ځواک د ښې معرفي په موخه یادې ویبپاڼې دا هم لیکلي وو، چې که چېرته یو تیم یا استعداد په یوه شخص کې موجود وي، هغه د خپل ځان په اړه څه ډول څرګندونې لري. له ویبپاڼې مې دا برخه هم را وژباړله؛ چې دا له قاسم علي شاه سره زما د کار لومړنی تفاوت دی.

قاسم علي شاه هم تر ډېره پورې د ځواکونو پېژندنه له همدې ویبپاڼې څخه ژباړلې او ځینې زیاتونې یې هم پکې کړې دي. خو یو نوښت یې دا کړی دی، چې له یوه ځواک څخه برخمن شخص ته یې ځینې مشورې هم لیکلې، بله دا چې، دا یې هم ښودلي، چې له یوه ځانګړي ځواک څخه برخمن شخص ته کوم مسلکونه ډېر مناسب او وړ دي. ما چې د قاسم علي شاه کتاب مطالعه کړی وو او دغه نوښت یې ذهن ته راغی، بېرته شاه صیب ته ور ستون شوم او د هغه قیمتي مشورې او د مسلکونو وړاندیزونه مې کټ مټ ترې را وژباړل.

له قاسم علي شاه سره زما د کار تفاوت، هغسې چې یوه بېلګه یې پورته هم تېره شوه، یوازې په دقت کې نه دی، بلکې په محتوا کې هم دی. ډان کلیفټن خپل څلوردېرش ځواکونه په څلورو لویو او عمومي کټګوریو وېشلي، چې شاه صیب په خپل کتاب کې دغه وېش نه دی مراعت کړی او ټول تیمونه (themes) یې تر عمومي عنوان لاندې ځای کړي. په دې سربېره، ډان کلیفټن هرې کټګورۍ ته یو، یو رنګ ځانګړی کړی، چې سره له دې چې په چاپي کتابونو کې د رنګونو مراعت د بازاري تقاضاوو له مخې لږ ستونزمن وي؛ خو دا چې زما کتاب په انلاین بڼه خپرېده، نو ما د ځواکونو رنګونه هم استعمال کړل؛ چې په ظاهري لحاظ دا هم له قاسم علي شاه سره زما د کار یو تفاوت ګڼل کېدلی شي.

د دې ټولو اړخونو په خوا کې یوه لویه ستونزه د څلوردېرش تیمونو یا ځواکونو د اصطلاحاتو یا نومَوَنو ژباړه وه. قاسم علي شاه چې د هر تیم د کلمې کومه ژباړه کړې، تر ډېره مفهومي ژباړه ښکاري؛ خو زما زړه وو، چې د هر تیم لپاره داسې معادل پیدا کړم، چې د یو چا لپاره یې زدکړه او یا په خبرو کې یادونه او استفاده اسانه وي؛ او هم و دې شي، چې د دغې برخې د فني اصطلاحاتو په توګه مشهور شي.

د دې کار لپاره مې دغه ځواکونه په دري او عربي ژبو ولټول. له نېکه مرغه، په دواړو ژبو کې مې یوه، یوه ډېره ګټوره ویبپاڼه ومونده. د دري ژبې له ویبپاڼې (behtarinekhod.com) څخه مې نه یوازې د تیمونو د معادل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ګټه واخیسته، بلکې له یوې خوا مې که ډېرې مهمې او ارزښتناکې خبرې ترې را وژباړلې، نو له بلې خوا مې د ځینو خبرو د وضاحت لپاره هم استفاده ترې وکړه.

د عربي ژبې ویبپاڼې (doublevisit.co) که څه هم د معادلونو په برخه کې کومه مرسته راسره ونه کړه، خو یو عمومي تصور او انځور مې ترې واخیسته. وجه یې دا وه، چې په عربي ژبه کې هم د تیمونو د معادل په توګه مفهومي ژباړه را وړل شوې وه، چې مفهومي ژباړه په خپل ځای ګټوره ده، خو هغه مقصد یې نه پوره کاوه، چې ما په خپل زړه کې درلوده. که په انګلیسي کې یوه کلمه کارول شوې وي او تا د معادل په توګه یوه جمله ورته لیکلې وي، نو زما په نظر د مقالې په منځ کې خو به ستونزه ونه لري، خو که نوم یا فني اصطلاح وي، بیا به مو ډېره خوندوره ژباړه نه وي کړې!

یو څرګنداوی دې وشي، چې زما معادل هم د کره پښتو لغتونه نه دي او حتی په ارادي ډول مې دا هڅه هم نه ده کړې، چې د کره پښتو معادل ورته ولټوم، بلکې دري او عربي کلمې مې هم ورته را پور کړې او تر خپل هدف پورې د رسېدو پوره، پوره کوشش مې کړی.

وروستي یادونه دا چې، زه دغې رسالې ته د چاپ هېڅ ډول اراده نه لرم او غواړم، تر لوستونکو پورې وړیا ورسېږي؛ په دې اساس، دغه رساله هر وخت د اصلاح، زیاتونو او سمونو لپاره د لاسرسي وړ ده او له همدې مخې، زه به تل د درنو لوستونکو، د دغې څانګې د علمي اشخاصو، مسلکي ژباړونکو او څېړونکو نظرونو، نیوکو او لارښوونو ته سترګې په لار یم!

ستاسو،

رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پېژندنه

امریکایي ارواپوه، لیکوال، څېړونکی او کارپنځګر ډونالډ کلیفټن د فبروري په څلورمه، ۱۹۲۴ز کال نړۍ ته راغی. دی چې په ډان کلیفټن هم مشهور دی، له ۱۹۵۰ څخه تر ۱۹۶۹ کلونو پورې یې د ارواپوهنې په برخه کې د تدریس کارونه پرمخ وړل.

ډان له دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته د انسانانو د استعدادونو په تړاو څېړنه او پلټنه پیل کړه او د کلیفټن د استعداد یابي په نوم یې یو ازمایښت رامنځته کړ، چې له خلکو سره یې د خپلو استعدادونو په پېژندلو کې مرسته کوله. په یاد ازمایښت کې شاوخوا دوه میلیونه کسان تر څېړنې لاندې ونیول شول او په پایله کې یې ۳۴ ځواکونه تشخیص کړل. له دې اړخه، ډان کلیفټن ته د ځواکونو د ارواپوهنې پلار هم ویل کېږي.

دغه ځواکونه، چې وروسته په «څلوردېرش کلیفټن ځواکونو» مشهور شوو، په څلورو لویو کټګوریو یا ساحو وېشل شوي دي.

له عمومي اړخه، یاد ځواکونه یا تیمونه (themes) یو ساده خو خورا مهم فکتور راته روښانه کوي او هغه دا چې د یوه ځانګړي انسان لپاره څه شی تر ټولو صحیح او مناسب دي.

خو هر ځواک په فردي بڼه بیا دا راته ښیي، چې یو انسان په کومه برخه کې تر ټولو ډېر تکړه او په کومو برخو کې د نورو مرستې ته اړتیا لري.

دغه ځواکونه، هغسې چې تر ډېره انګېرل کېږي، د شخصیت مختلف ډولونه نه دي؛ بلکې له یوه اړخه د انسان ځانګړنې یې هم ګڼلی شو او و دې شي، چې په یوه انسان کې له څلوردېرشو ځواکونو څخه ګڼ ځواکونه موجود وي. د شخصیت ډولونه، مثلاً درون ګرا یا بیرون ګرا، دوه داسې متضاد ډولونه دي، چې په یوه وخت کې په یوه انسان کې نه شي ځایېدلی، خو د کلیفټن ځواکونه په دې ډول نه دي او یو انسان ممکن ګڼ ځواکونه ولري.

د کلیفټن ځواکونه لاندې څلور عمومي کټګورۍ لري:

**الف) د ستراتیژیک تفکر اړوند ځواکونه**

**ب) د اړیکو جوړونې اړوند ځواکونه**

**ج) د اغیز ښندنې اړوند ځواکونه**

**د) د سرته رسونې اړوند ځواکونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف) د ستراتيژيک تفکر اړوند ځواکونه (Strategic Thinking)

### ۱- تحليلي (Analytical)

تحليلي تيم يا ځواک مو نور خلک ننګوي او ترې غواړي چې: «په ثبوت يې ورسوه. راته وښيه، چې ولې هغه څه رښتيا دي، چې ته يې ادعا کوې.» د دغه ډول پوښتنو او ګروېږنو په وړاندې ممکن ځينې دې پايلې ته ورسېږي، ګنې د هغوی ارزښتناکو تيوريو خپل زور بايللی دی او نور د له منځه تللو په حال کې دي. خو ستاسو اصلي موخه هم بالکل همدا وي. تاسو له زړه څخه نه غواړئ، چې د نورو خلکو د نظرياتو مانۍ ور ړنګه کړئ، بلکې ټينګار مو يوازې په دې وي، چې د هغوی تيورۍ بايد سالمې او درستې وي. تاسو خپل ځان له عيني عينکو ګورئ او له يوه شي سره خپل زړه نه تړئ. معلومات او ډيټا مو خوښېږي، په دې چې ډيټا صحيح يا غلطه کېدلی شي او عيني بڼه لري. معلومات خپله اجنډا نه لري. د دغې ډيټا په مټ، تاسو د شيانو او پديدو په اړيکو او نقشو پسې ګرځئ. تاسو غواړئ، پوه شئ، چې يوه نقشه يا پېټرن په څه ډول بله نقشه اغېزمنوي. په څه ډول له يو بل سره اړيکه جوړوي؟ پايلې يې څه راوځي؟ آيا دغه پايله له مطرح شوې تيورۍ يا پېښ شوي حالت سره موافقه ده او که نه؟ دغه ټولې ستاسو پوښتنې دي. تاسو له پديدو او ښکارندو تر هغو پورې پوستکی اړوئ، تر څو يې اصلي علت يا علتونه را څرګند شي. نور خلک تاسو ته د منطقي او دقيق انسان په سترګه ګوري او وخت په وخت خلک درته راځي او خپل «خيال پلاوونه» يا «ګډوډ فکرونه» ستاسو د دقيق او منطقي ذهن مخې ته ږدي. له تاسو دا تمه وي، چې ستاسو تجزيه تونده او غندونکې نه وي. که نه نو؛ خلک ممکن خپل «خيال پلاوونه» ستاسو په مخکې له بيانولو ډډه وکړي.

#### د ځان په تړاو يې څرګندونې:

- زما تګلاره منطقي او عيني تګلاره ده. - زه د فکر کولو لپاره وخت ته اړتيا لرم. - زه له ډيټا او فکټونو سره مينه لرم. - زه له هغو شيانو کرکه لرم، چې په ثبوت نه رسېږي يا نه شي رسېدلی. - زه په احساساتي مسايلو کې بې پرې تفکر وړاندې کوم.

#### دغه ډول شخص ته څو مشورې:

- ★ داسې دنده ولټوئ، چې څېړنې او پلټنې ته ډېره اړتيا لري.
- ★ د معلوماتو د ترلاسي او څېړنې لپاره يوازې هغه کتابونه، ويبپاڼې او رسالې در وګورئ، چې مستندې وي.
- ★ منطقي شناند ملګري جوړ کړئ، تر څو د خپل مزاج له خلکو څخه د کره معلوماتو له ترلاسي او هغو سره له شريکولو يې خوند واخلئ.
- ★ وخت په وخت په داسې کورسونو کې ګډون وکړئ، چې ستاسو معلومات ورسره زيات شي او منطقي رويه مو وغوړېږي.
- ★ په دفتر يا سازمان کې مو چې د کومو کارمندانو له تحليلي او تجزيوي کارونو سره ډېره راشه درشه وي، تاسو يې په کارونو کې لاسنيوی وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**
د بازارموندنې متخصص، مالي محاسبه، طبي تحليلونه، د کتابونو/رسالو تدوين، د ګواښونو مديريت...

## ۲- متن محوري (Context)

تاسو تېر ته ور ستنېږئ. تاسو تېرمهال ته په دې وجه سر ور ايسته کوئ، چې همالته ستاسو ځواب پروت دی. تاسو په اوسمهال د پوهېدو لپاره شاته ګورئ. ستاسو د ليد له زاويې اوسمهال بې ثباته او د ناسازه غږونو يوه مبهمه نغمه ده. تاسو خپل ذهن تېر مهال ته ستنوئ، په دې چې دا هغه مهال وو، چې پلانونه د جوړېدو په حال کې وو او په هماغه ځای کې تاسو د اوسمهال ثبات وينئ. تېرمهال تر اوسمهاله ساده وو. تېرمهال د نقشو يا طرحو وخت وو. تاسو چې شاته وګورئ، نو تاسو وينئ، چې د اوسمهال ټوله نقشه مو مخې ته راڅرګندېږي. تاسو دې حقيقت ته رسېږئ، چې ابتدايي اهداف او موخې څه وې. دغه نقشې او موخې تر دې مهاله پورې دومره ګډې وډې او نامنظمه شوې وي، چې هېڅ د پېژندو وړ نه وي، خو ستاسو د «متن محوري» تيم يا ځواک دغه نقشې بېرته را ژوندۍ کوي. دغه پوهه په تاسو کې باور ته لاره جوړوي. اوس چې ستاسو تمرکز پاشلی نه دی، تاسو تر پخوا ښه تصميمونه نيسئ، په دې چې اوس تاسو بنسټيز جوړښتونه او ساختار وينئ. تاسو له دې امله يو ډېر ښه همکار جوړېږئ، چې تاسو په دې پوهېږئ، چې ستاسو همکاران په څه ډول تر اوسني وضعيته را رسېدلي دي. بله دا چې تاسو د راتلونکي په اړه لا ډېر هوښيارېږئ، په دې چې تاسو هغه تخمونه ليدلي شئ، چې په ماضي کې کرل شوي وو. تاسو چې کله له نويو خلکو او نويو حالاتو سره مخ شئ، نو له هغوی سره د بلدتيا لپاره لږ وخت ته اړتيا لرئ، خو پکار ده چې ځان ته دغه وخت ورکړئ. تاسو بايد د پوښتنو لپاره ځان منظم کړئ او طرحې را برسېره کړئ، په دې چې حالات چې هر ډول وي، که تاسو طرحې نه وي ليدلې، تاسو په خپلو تصميمونو کې ډېر باوري نه شئ کېدلی.

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**
-زه خپلو پخوانيو همکارانو او تېرو پېښو ته د ارزښت په سترګه ګورم. -زه د بحثونو او پرېکړو لپاره اړوند بګراؤنډ (زمينې) ته اړتيا لرم. -زه له تېر مهال سره مينه لرم. -زه د ماضي له هېرولو کرکه لرم. -زه کره خاطرې او ارزښتناک اثار وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ ستاسو لپاره داسې مسلک غوره دی، چې د ماضي اعداد او شمېرې پکې ډېرې تحليل و تجزيه کېږي.

★ د ماضي يادونه، مثلاً تصويرونه، ليکنې او داسې نور ټول کړئ، ترڅو وهڅېږئ.

★ تاريخي ناولونه، خپلژوندليکونه، ژوندليکونه او داسې نور ولولئ. د تاريخ مطالعه د اوسمهال په غوره پوهاوي کې مرسته درسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ★ په دفتر کې مو که ستونزه راشي، نو خپل ملګري وهڅوئ، چې پخوانۍ دوسيې او تاريخ ور مطالعه کړي. ورته ووايئ، چې د يوې دوسيې د تاريخ مطالعه د هغې دوسيې په پوهاوي کې ډېره زياته مرسته درسره کولی شي.
- ★ د سازمان د غړو د هڅونې او تشويق لپاره د ماضي د برياليتوب کيسې او غيرعادي پېښې ورته بيان کړئ. په دې ډول په هغوی کې د کار جذبه را بيدارېږي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

ښوونکی، مؤرخ، د موزيم لارښود، د مستندو فلمونو پروډيوسر، ژورناليست، د لرغونو اثارو متخصص، د لرغونو نايابه توکو کاروبار...

## ۳- راتلونپاله (Futuristic)

«ښه به نه وي، که...» تاسو داسې شخص ياستئ، چې لرې، لرې افقونو ته مو سترګې رسېږي. راتلونکی ستاسو لپاره په زړه پورې دی. تاسو راتلونکی دومره واضح ليدلی شئ، لکه په مخامخ دېوال چې درته انځور شوی وي، او دغه مفصل او واضح انځور تاسو په مخ ورکشوي او د سبا په لوري مو ور کاږي. د دغه انځور دقيقه محتوا ستاسو په نورو ځواکونو او لېوالتياوو پورې تړلې ده – مثلاً يو بهتر توليد انځوروئ، يا يو بهتر ټيم، يو بهتر ژوند، يا بهتره نړۍ جوړوئ – خو دغه انځور تل تاسو ته د يوې انګېزې او محرك حيثيت لري. تاسو خوب ليدونکي ياستئ او دا وينئ چې څه به کېږي او له دې خوبونو خوند و کيف اخلئ. هغه وخت چې اوسمهال ډېر زيات ناهيلی کوونکی او شاوخوا خلك مو ډېر زيات پراګماتيک چلند کوي، تاسو د راتلونکي په اړه خپل لرليدونه پنځوئ او دغه لرليدونه تاسو ته انرژي دربښي. دغه لرليدونه نورو ته هم انرژي ور کولی شي. په اصل کې ډېری وختونه خلك تاسو ته راځي، تر څو تاسو ورته د راتلونکي په تړاو خپل لرليدونه بيان کړئ. دوی يو داسې انځور غواړي، چې د دوی بصيرت ډېر کړي او په نتيجه کې يې مورال لوړ شي. تاسو د دې وړتيا لرئ، چې دغه انځور ورته رسم کړئ. تمرين وکړئ. خپل الفاظ په ډېر غور انتخاب کړئ. د راتلونکي په تړاو انځور د امکان تر بريده واضح وپنځوئ. خلك به په هغه اميد پورې خپل ځانونه وتړي، چې تاسو يې ورته انځوروئ.

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه له راتلونکي سره لېوالتيا لرم. – ماته بايد فرصتونه برابر شي، تر څو پـه هغـه راتلـونکي وغږېږم، چې زه يې وينم. – زه له خوبونو څخه له ترلاسه شوې انګېزې سره مينه لرم. – زه پر اوسني وضعيت باندې لـه قناعـت څخـه کرکه لرم. – زه وړاندوينې، پېش بينۍ او پيش عکاسي وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ ستاسو لپاره داسې مسلك غوره دی، چې تاسو ته د راتلونکي په تړاو د خپل لرليد د بيانولو فرصت درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

★ داسې کسان ولټوئ، چې ستاسو د پیش بینۍ صلاحیت درک کولی شي. دغه خلک ستاسو له لرلید سره سم ستاسو د هڅونې ذریعه ګرځېدلی شي.

★ له داسې کسانو لرې اوسئ، چې ستاسو لرلید او د راتلونکې د لیدلو صلاحیت مو نه شي درک کولی. دغه خلک به مو په خبرو پورې خاندي او «احمقانه ډوزې» به يې ګڼي. له دغه ډول اشخاصو سره ناسته مو ناهیلي کولی شي. ستاسو دغه وړتیا ډېره ځانګړې ده او ډېر کم خلک له دې ځانګړنې برخمن وي.

★ د دې لپاره چې خپل لرلید په حقیقت بدل کړئ، له «فعال» شخص څخه مرسته وغواړئ، ځکه چې دغه خلک د عمل پاچاهان وي. له دغه ډول خلکو سره ملګرتیا مرسته درسره کولی شي، چې د خپل عمل په مټ خپل لرلید (خوب) مو په حقیقت واړوئ.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

وینا او سیمینارونه جوړول، لیکوالي/تصنیف و تالیف، سیاست، د اعلاناتو مدیریت، مخترع یا ساینسپوه...

## ۴- تخیل (Ideation)

تاسو له نظریاتو (اندونو) سره مینه لرئ. نظریه څه شی ده؟ نظریه یو تصور دی، چې د پېښو تر ټولو ښه توجیه او تشریح وړاندې کوي. تاسو هغه مهال ډېر زيات خوشالېږئ، چې کله تر یوې مغلقې پدیدې لاندې هغه ساده او واضح تصور کشف کړئ، چې د پدیدو اوسنی وضعیت درته روښانولی شي. نظریه یوه اړیکه ده. تاسو داسې ذهن لرئ، چې تل د اړیکو په لټون کې وي، او له همدې امله هغه مهال ستاسو لېوالتیا را پارېږي، چې کله ځینې ناهمغږه پدیدې د یوې مبهمې اړیکې په واسطه له یو بل سره تړاو پیدا کوي. ایډیا د ننګونو په تړاو نوی لیدلوری دی. تاسو هغه نړۍ، چې موږ ټول یې پېژنو در اخلئ، په بل مخ یې اړوئ، تر څو له یوې نا اشنا خو ویښوونکې زاویې یې ولیدلی شو. تاسو له نظریاتو سره مینه لرئ، په دې چې نظریات خورا عالي دي، په دې چې نظریات نوي دي، په دې چې د پدیدو روښانوونکي دي، په دې چې له یو بل سره ټکر لري، په دې چې عجیب و غریب دي. د دې ټولو علتونو له مخې، هر کله چې تاسو له یوې نوې نظریې سره مخ کېږئ، د انرژۍ یوه درنه څپه ستاسو په درون کې موجونه وهي. نور خلک ممکن تاسو نوښتګر، یا ښتوني یا فکري او یا حتی ځیرک وبولي. و دې شي، چې تاسو دغه ټولې ځانګړنې ولرئ. څوک په یقین سره ویلی شي؟ خو یو شی چې تاسو یې په اړه یقیني یاستئ، دا ده، چې نظریات هیجان راوړونکي دي. او ډېرې وختونه همدا هیجان درته بسنه کوي.

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- پر ما د نوښت او ابتکار ګواښ او ګونګتیا هېڅ اغېز نه کوي. –زه له بندیزونو او محدودیتونو پرته، د نویو امکاناتو د کشف لپاره ازادي ته اړتیا لرم. –زه د یوه تازه او نوي شي له وړاندې کولو سره مینه لرم. –زه له داسې کار نه کرکه لرم، چې پخوا ترسره شوی وي. –زه نوي او تازه لیدلوري وړاندې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلك غوره كړئ، چې پر نويو نظرياتو د كار كولو فرصت پكې ترلاسه كړئ.

★ ستاسو خلق ژر تنګېږي، د همدې لپاره تل په خپل ژوند كې واړه، واړه تغييرات راولئ. په دې ډول به همېش متحرك ياستئ.

★ د خپل ځان د بهتري لپاره په نويو نظرياتو غور وكړئ. دا ستاسو فطري وړتيا ته وده وركوي او ګټورتيا مو زياتوي.

★ هره ورځ څو شېبې مطالعه وكړئ. مطالعه مو نه يوازې معلومات زياتوي، بلكې د نورو له نظرياتو او تجرباتو سره هم اشنا كېږئ. په دې سره مو په نظرياتو كې وسعت راځي.

★ خپل نظريات تل له ملګرو سره ياد كړئ. په دې ډول مو نظريات ښه كېږي او كه كومه ستونزه ولري، د هغې ختمول اسانېږي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلكونه:**

بازارموندنه، ژورناليزم، د توليداتو ډيزاين يا توليد پنځونه، اعلانات، پلان جوړونه...

## ۵- ټولوونكی (Input)

تاسو لټونكي، پلټونكي او كنجكاو ياستئ. تاسو شيان ټولوئ. امكان لري، معلومات ټول كړئ – لكه الفاظ، فكټونه، كتابونه او ويناوې – او يا ممكن لمسي شيان جمع كړئ، لكه شاپركونه، د بيس بال كارتونه، پلاستكي نانځكې، او يا انځورونه. تاسو چې هر څه ټولوئ، د ټولو لامل يې دا دی، چې تاسو ورسره دلچسپي لرئ. او ستاسو ذهن داسې دی، چې ډېر زيات شيان ورته د دلچسپي وړ دي. ستاسو لپاره نړۍ جالبه او هيښوونكې ده، په دې چې تنوع او پېچلتيا يې لايتناهي ده. كه تاسو ډېره مطالعه كوئ، نو ضرور نه ده، چې د خپلو تيوريانو د بهتري او صيقل كولو لپاره دا كار كوئ، بلكې په خپل ارشيف كې د معلوماتو د زياتوالي لپاره يې كوئ. كه تاسو سفر كوئ، وجه يې دا ده، چې هر نوی موقعيت په خپله غېږه كې ستاسو لپاره نوي اثار او حقايق لري. دغه اثار ترلاسه كولی او بيا خوندي كولی هم شئ. دغه توكي ولې د خوندي كولو وړ دي؟ د دغو توكو د خونديتوب پر مهال ډېركله دا ويل ستونزمن وي، چې تاسو به كله يا ولې دې شيانو ته اړتيا لرئ، خو څوك پوهېږي، چې كله به دغه شيان ستاسو پكارېږي؟ په خپل ذهن كې د توكو د ممكنه استعمال له امله تاسو د توكو په غورځولو د ارامتيا احساس نه كوئ. نو تاسو توكي ترلاسه كوئ، كوټه كوئ او له ځان سره يې خوندي كوئ. دا چاره تاسو ته په زړه پورې ده. ستاسو ذهن تاند ساتي. او شايد يوه ورځ له دې څخه يو نيم توكی خپل ارزښت هم ثابت كړي.

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه د هغو منابعو، معلوماتو او توكو ټولوونكی يم، چې زما ورسره دلچسپي وي. – زه د هغو منابعو د خونديتوب لپاره ځای ته اړتيا لرم، چې په طبيعي ډول يې لاسته راوړم. – زه له دې سره مينه لرم، چې مربوطه او معلومه مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړم. - زه له دې څخه کرکه لرم، چې داسې شیان درسره نه وي، چې نورو ته یې ګټه رسېدلی شي. – زه داسې فزیکي ابزار وړاندې کوم، چې په وده او ګټورتیا کې مرسته کولی شي.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ داسې مسلک غوره کړئ، چې هره ورځ نوي معلومات ترلاسه کړئ.
- ★ په هره موضوع د معلوماتو ټولول ستاسو په ګټه نه دی. د خپل مهارت او وړتیا یوه ځانګړې موضوع وټاکئ او بیا د هماغې لپاره خپله مطالعه وکړئ. د دغې موضوع په تړاو د معلوماتو ذخیره تاسو ته د نورو خلکو په منځ کې معلوم مقام دربښلی شي.
- ★ د ورځې یوه برخه د کتابونو مطالعې او څېړنې ته ځانګړې کړئ، تر څو ذهن مو ورسره روښانه وي.
- ★ د خپلې خوښې په موضوع د خپلو الفاظو زېرمه پراخه کړئ. داسې به مو خلک مهارت ته ډېر ژر غاړه کېږدي.
- ★ په اونۍ یا لسو ورځو کې دایرة المعارفونه، د لغتونو یا نور معلومات زیاتوونکي کتابونه ارومرو ولولئ.
- ★ دا ومنئ، چې د علم لپاره ستاسو تنده هېڅ کله نه ختمېږي. او همدا ستاسو ځانګړنه او انفرادیت دی.
- ★ داسې فرصتونه ولټوئ، چې خپل معلومات تر نورو ورسولی شئ. دا درته انګېز درکوي او د لا زیاتې مطالعې او معلوماتو د ترلاسي شوق مو را بیداروي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

ژورنالیزم، تدریس، روزنیز پروګرامونه، څېړنه، ساینسپوه، د کتابتون مسؤل...

## ٦- تعقل (Intellection)

ستاسو فکر کول او ذهني فعالیت خوښېږي. ستاسو خوښېږي، چې د خپلو مغزو غړو ته تمرین ورکړئ او په ګڼو خواوو یې وغځوئ. دغه ذهني فعالیت مو ممکن متمرکز وي؛ مثلاً، ممکن هڅه به کوئ، چې یوه ستونزه حل کړئ، یا یوه ایډیا وپنځوئ، یا د بل شخص په احساساتو ځان پوه کړئ، چې دغه دقیق تمرکز ستاسو په نورو ځواکونو پورې تړلی دی. یا دې امکان ولري، چې دغه ذهني فعالیت مو اصلاً له تمرکز څخه بې برخې وي. د تفکر تیم هېڅ کله دا نه ټاکي، چې تاسو د څه شي په هکله فکر کوئ؛ دغه تیم یوازې دا بیانوي، چې ستاسو فکر کول خوښېږي. تاسو داسې شخص یاستئ، چې یوازیتوب مو خوښېږي، په دې چې په یوازیتوب کې فکر، مراقبه او تفکر کولی شئ. تاسو درون ګرا یاستئ. له بله اړخه داسې هم ویلای شو، چې تاسو د خپل ځان تر ټولو ښه ملګري یاستئ، په دې چې تاسو له ځانه پوښتنې کوئ او هڅه کوئ، چې پخپله ورته ځوابونه ومومئ او وګورئ، چې ځوابونه مو څومره درست دي. دغه درون ګرایي ممکن له دې امله یو ډول نارضایتي هم درته ایجاد کړي، چې کله تاسو هغه څه چې په عمل کې یې کوئ، له خپلو هغو افکارو او نظریاتو سره پرتله کوئ، چې ذهن مو یې پنځوي. یا دې امکان ولري، چې دغه درون ګرایي مو د عملي موضوعاتو په لور سوق کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثلاً د ورځې پيښې پلان کړئ يا هغې مرکې ته ځان چمتو کړئ، چې څو ورځې وروسته يې په مخ کې لرئ. خو چې هرې خواته مو رهبري کوي، ذهني وړتيا او فعاليت ستاسو د ژوند له تلپاتې او دوامداره اړخونو څخه ده.

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه فکري، عميق او تنها انسان يم. - زه د مراقبې او تفکر لپاره وخت ته اړتيا لرم. - زه له تيوري سره مينه لرم، په دې چې تيوري د عمل پيلامه ده. - زه د يوه شي په تړاو له بې فکره ميتود نه کرکه لرم. - زه د پوهې او حکمت ژورې وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ ستاسو لپاره داسې مسلک غوره دی، چې د فلسفې، ادبياتو يا اروا پوهنې په موضوع خپله مطالعه وکولی شئ.
- ★ د ورځې يوه برخه د غور و فکر لپاره ځانګړې کړئ. دا کار توانايي در ببښي.
- ★ له ځان سره کتابچه وګرځوئ او په ذهن کې مو چې کومه نظريه درځي، له ځان سره يې ياداشت کړئ. دغه نظريات چې بار، بار لولئ، د مغزو مېچنه به مو په کار اخته وي.
- ★ له داسې کسانو سره وګورئ، چې ستاسو د خوښې په موضوعاتو خبرې اترې کول غواړي.
- ★ له تفکر کوونکو کسانو سره راشه درشه زياته کړئ. له هغوی سره ناسته پاسته توانايي او انګېزه در ببښي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

فلسفي، تدريس، څېړنه، شنونکی، شاعر...

## ۷- زده کوونکی (Learner)

تاسو له زدکړې او زده کولو سره مينه لرئ. دا چې تاسې له کومو موضوعاتو سره ډېره علاقه او لېوالتيا لري، دا ستاسو په نورو تيمونو او تجربو پورې اړيکه نيسي، خو موضوع چې هر څه وي، تاسو تل د زدکړې پروسې ته ور لېواله ياستئ. ستاسو لپاره تر محتوا او يا پايلې، پخپله دغه پروسه ډېره زړه راښکونکې وي. تاسو له ناپوهۍ څخه تر پوهې پورې له دومداره او ارادي سفر څخه ډېره زياته انرژي ترلاسه کوئ. د لومړنيو څو فکتونو هيجان، د زده شوې محتوا د تکرار او تمرين لپاره ابتدايي هڅې او په يوه مهارت کې د ځان رسونې له امله په خپل ځان باور – دا هغه پروسه ده، چې تاسو خپل ځان ته ور کاږي. هيجان او دلچسپي مو حتی د ځوانانو او پاخه عمر کسانو په ښوونيزو فعاليتونو کې هم ګډون ته لمسوي– مثلاً د يوګا يا پيانو درسونه يا د ليسانس او ماسټرۍ په ټولګيو کې ناسته او داسې نور. دغه کار مو د دې جوګه کوي، چې په ډاېناميکو کاري چاپېريالونو کې وده و پرمختګ وکړئ. په دغو چاپېريالونو کې تاسې ته وړې، وړې پروژې درکول کېږي او دا تمه وي، چې په لنډه موده کې به د يوې نوې موضوع په اړه ډېر څه زده کړئ او بيا به راتلونکې پروژې ته مخه کړئ. د «زده کوونکي» تيم په دې معنا نه دی، چې تاسو به خامخا په يوه موضوع کې متخصص کېږئ، يا تاسو د هغه اعتبار په لټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاستئ، چې یوه مسلکي یا علمي شخصیت ته ورکول کېږي. ستاسو د زدکړو د پایلې ارزښت «یوه ځای ته له رسېدو» څخه ډېر ټیټ وي.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه د زدکړې له تجربې څخه خوند اخلم. – زه باید نوي معلومات او تجربې وسپړم. – زه له دې سره مینه لرم، چې په یوه موضوع کې د معلوماتو له مخې دکتار په سر کې اوسم. – زه «په هر شي د پوهېدو» له نظریې او «په هر څه پوهېدونکي» شخص نه کرکه لرم. – زه د زدکړې لیدلوری وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلک ولټوئ، چې تخنیکي مهارتونو ته اړتیا ولري. دغه ډول خلك د خپل زدکړیال مزاج له برکته ډېر ژر دنده پیدا کولی شي.

★ داسې ځانګه غوره کړئ، چې په لنډه موده کې د نویو ژبو او مهارتونو د زدکړې فرصتونه درکوي.

★ غور وکړئ، چې تاسو څه ډول زدکړه کوئ. د تدریس له لارې، په پټه خوله د غور و فکر له لارې او که د خبرو اترو و غوږ نیولو له لارې. هر ډول چې وي، د زدکړې میتود مو لا ښه کړئ.

★ د زدکړې اهداف وټاکئ. داسې به مو د زدکړې سرعت ډېر شي او تمرکز به هم لرئ.

★ د نویو کورسونو په لټه کې اوسئ. د خپلې خوښې او اړتیا په موضوع نوي کورسونه مو مهارتونه لوړولی شي.

★ کوم خلك چې په خپله وظیفه کې د نوي شي له زدکړې وېرېږي، هغوی ته انګېزه ورکړئ، چې د نوي شي زدکړه کومې ګټې ور رسولی شي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

تدریس، قانوني مشاور، د خبرونو ایډیټور، ژورنالیست، رضاکار...

## ۸- ستراتیژیک (Strategic)

ستراتیژیك تیم له تاسو سره مرسته کوي، چې د انتشار او ګډوډۍ په منځ کې ترتیب ولټوئ او تر ټولو غوره لاره پیدا کړئ. دا کوم مهارت نه دی، چې تدریس شي. بلکې د تفکر یوه ځانګړې طریقه ده او په لویه کچه د نړۍ د لیدو یو خاص لیدلوری دی. د دغه لیدلوري په مرسته تاسو په هغو ځایونو کې نقشې او طرحې وینئ، چې نور خلك پېچلتیا او ګډوډي ویني. تاسو چې له دې نقشو خبر یاستئ، تاسو له بدیلو لارو او انتخابونو کار اخلئ او تل دا پوښتنه کوئ، چې «ښه که داسې وشوو، نو بیا؟ ښه، سمه ده! که هغسې وشوو، نو بیا؟» دغه تکراري پوښتنې مرسته درسره کوي، چې یوې موضوع ته له بلې زاویې وګورئ. له مختلفو زاویو څخه تاسو احتمالي خنډونه ډېر دقیق ارزولی شئ. تاسو چې پوهېږئ، چې هره لاره کومې خواته غځېدلې ده، تاسو انتخاب پکې کوئ. تاسو له هغو لارو مخ اړوئ، چې هېڅ ځای ته مو هم نه رسوي. له هغو لارو هم خپل مسیر کږوئ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیده د خنډ او مقاومت په لور غځېدلې وي. تاسو هغه ټولې لارې له پامه غورځوئ، چې ابهام او ګونګتیا ته مـو وړي. تاسو تر هغو پورې غورچاڼ او انتخاب کوئ، تر څو چې د خپلې خوښې لارې تـه رسـېږئ – چـې همـدا ستاسو ستراتیژي جوړوي. اوس چې تاسو ستراتیژي لرئ، په مخ حرکت کوئ. ستاسو ستراتیژیک تیم دغـه ډول جوړښت لري: لومړی پوښتنه: «که چېرته داسې وشي، نو بیا؟»... بیا انتخاب... بیا عمل.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه یو پلان جوړوونکی انسان یم، چې مختلفې تګلارې لوبوم او «که چېرته داسې وشي، نو بیا؟» پوښتنه کوم. – زه د منځمهاله پرېکړو لپاره ازادي ته اړتیا لرم. – زه مینه لرم، چې هغه مهال لاره لیدلی شم، چې نور خلك هـېڅ لاره نهویني. – زه له داسې کارونو کرکه لرم، چـې تـل تـرسره کېږي. – زه ابتکـاري تفکـر، تصـور او مقاومـت وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلك وټاکئ، چې وخت په وخت موخې درکول شي، خو دا واك درسره وي، چې دې موخو ته د رسېدو تګلاره پخپله غوره کړئ.

★ خپل پلان له ټولو جزیاتو سره چمتو کړئ او نور هم له دې جزیاتو خبر کړئ، تر څو هغوی هم ستاسـو لـه کار څخه راضي وي.

★ په خپل وجدان بروسه ولرئ. تاسو د لرلیدنې صفت لرئ، چې په مټ یې تاسـو راتلـونکی لا ډېـر بهـتر او واضح لیدلی شئ. دا په تاسو کې اعتماد را ټوکوي.

★ له داسې خلکو سره نږدې پاتې شئ، چې مهم کارونه کوي او د رهبرۍ وړتیا لري.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

ارواپوهنه، حقوق، مشاورت، سیول انجینري...

***

## ب) د اړیکو جوړونې اړوند ځواکونه (Relationship Building)

### ۱- تطابق (Adaptability)

تاسو په اوسمهال کې ژوند کوئ. تاسو راتلونکی د یوه ټاکلي منزل په سترګه نه ګورئ. بلکې، د یوه داسـې مقـام په توګه یې وینئ، چې تاسو یې په اوسمهال کې د خپلو پرېکړو او انتخابونو له لارې پنځوئ. او له همـدې املـه تاسو خپل راتلونکی د یوه انتخاب د پایلې په توګه ګورئ. دا په دې معنا نه ده، چې تاسو پلانونه نه لرئ. احتمالاً ویې لرئ. خو د تطابق تیم تاسو ته دا وړتیا درکوي، چې د روانې شېبې غوښتنو ته په خپل زړه غبرګون وښیئ، ان که دغه شېبه مو له خپلو اصلي پلانونو څخه منحرف کوي هم. د نورو خلکو پرخلاف، تاسو له ناخـاپي غوښـتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تصادفي انتخابونو څخه بد نه وړئ. او تل یې توقع کوئ او پوهېږئ، چې پېښېدل یې حتمي دي. ان په ځینو وختونو کې خو تاسو ناڅاپي پېښو ته انتظار هم کوئ. تاسو له زړه نه یو انعطاف منونکی شخص یاستئ او هر کله چې د یوه کار تقاضا تاسو په یوه شېبه کې په بېلا بېلو خواوو کشوي، تاسو له ټولو حالتونو سره ځان عیارولی او خپله ګټورتیا ثابتولی شئ.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه تل حاضر او اماده شخص یم. - زه باید له داسې فشارونو سره مخ شم، چې د سمدستي غبرګون تقاضا کوي. - زه له تصادفاتو سره مینه لرم. زه له پیش بیني او وړاندوینې څخه کرکه لرم. زه د بدلون منلو لپاره رضایت او خوښي وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې دنده ولټوئ، چې حالات یې مسلسل د بدلون په حال کې وي. تاسو له بدلېدونکو حالاتو سره د بدلېدو ډېره ښه وړتیا لرئ.
★ په بدلېدونکو حالاتو کې په سم وخت سملاسي غبرګون ښودل زده کړئ. دغه ډول اشخاص ډېر ځله د سملاسي غبرګون په ځای له وخته مخکې یو داسې کار وکړي، چې په اصل کې تاوان رسوي.
★ په سختو حالاتو کې چې نور تر ستړیس لاندې وي، تاسو عموماً ارامه یاستئ. په دغسې شېبو کې خپل ملګري ارامه کړئ او کار ته یې وهڅوئ.
★ خلکو ته وښیئ، چې په اوسنۍ شېبه کې اوسېدل او فکر کول څومره ګټه لري. خلکو ته په هر ډول حالاتو کې په اوسنۍ شېبه کې د اوسېدو هنر ور زده کړئ.
★ داسې دنده چې ټاکلي او مشخص کارونه لري، ستاسو زړه به خولې ته راولي. تاسو له بدلون سره ډېر جوړ راځئ.
★ له «تمرکز» لرونکو اشخاصو سره ناسته ولاړه او مشوره په کارونو کې درسره مرسته کولی شي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

خبریال، د مشتري خدماتو استازی، بېړنۍ اجنسۍ لکه د ایمبولنس موټروان، ډاکټر...

## ۲- اتصال (Connectedness)

هره پدیده یو علت لري. تاسو په دې خبره یقین لرئ. تاسو په دې خبره یقیني یاستئ، ځکه چې تاسو په درون کې پوهېږئ، چې موږ ټول یو بل سره تړلي او وصل یو. هو، سمه ده، چې موږ ټول د فرد په توګه د خپلو قضاوتونو لپاره مسؤل یو او خپله خپلواکه اراده لرو، خو سره له دې هم موږ ټول د یوه لوی کل جز یو. ممکن ځینې دې ته ټولیز لاشعور هم ووایي. و دې شي، چې ځینې یې روح او قوه حیات وبولي. خو لفظ چې هر څه وي، تاسو په دې باور لرئ، چې موږ له یو بل څخه بېل نه یو او یا له ځمکې او د ځمکې په سر له ژوند سره بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیوستونه نه یو. د پیوستون او اتصال دغه احساس یو شمېر مسؤلیتونه لازموي. که مـوږ ټـول د یـوې لـویې تـابلو اجزاوې یو، نو بیا خو باید یو بل ته ضرر ونه رسوو، ځکه په دې ډول خو به خپل ځان ته ضرر رسوو. مـوږ بایـد له یو بل څخه ناوړه استفاده ونه کړو، ځکه په دې ډول خو به له خپل ځان نه ناوړه استفاده کـوو. تاسـو چـې لـه دغو مسؤلیتونو څخه آگاه یاستئ، نو ستاسو د ارزښتونو سیستم هم له همدې څخه منځته راځـي. تاسـو احسـاس لرونکي یاستئ، د یو بل غم درسره دی او نورو ته مو غېړه خلاصه وي. دغه راز، تاسو چې د انسانیت په یـووالي یقیني یاستئ، له همدې مخې تاسو د بېلا بېلو فرهنگونو د وگړو لپاره پل سازوونکي یاستئ. تاسو چې یو نـامریي لاس احساسوئ، نورو ته دا ډاډ ور ببښئ، چې زموږ او ستاسو له دې ناهنجاره ژونـد ور اخـوا یـو لـوی هـدف او مقصد هم شته. ستاسو د ایمان ارکان ستاسې په روزنې او کلچر پورې اړه لري، خو ستاسـو ایـمان مضـبوط وي. دغه ایمان تاسو او ملگرو ته مو د ژوند د رموزو او اسرارو پر وړاندې ځواک در ببښي.

**د ځان په تړاو یې څرگندونې:**

- زه له زمان او مکان ور اخوا د بشري خپل یا کورنۍ په اړه بشپړه آگاهي لرم. - زه باید تر خپله ځانـه د یـوه لـوی کل جز واوسم: لکه کورنۍ، ډله، سازمان، نړیواله ټولنه، او حتی کاینات. - زه د ژوند له دورانونو او تسلسـل سره مینه لرم. - زه د «موږ او هغوی» له ذهنیت نـه کرکـه لـرم. - زه د ژونـد او کاینـاتو د رمـوزو او عجـایبو پـه تـړاو د ارزښت لیدلوری وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ داسې مسلک غوره کړئ، چې له نورو سره د مرستې یا لارښوونې زمینه درته برابره شي.
- ★ د ورځې له لسو تر دېرشو دقیقو پورې مراقبه وکړئ او په دغه مراقبه کې تصور کړئ، چې تاسـې د نـړۍ لـه ټولو انسانانو سره وصل یاستئ، او د نړۍ ټول انسانان په تاسې پورې وصل دي.
- ★ په داسې پېښو او حالاتو او شیانو غور وکړئ، چې د ژوند لوړو مقاصدو ته مو توجه واړوي. په سترگو کـې به مو د ژوند ارزښت ډېر شي.
- ★ د یوه خیریه سازمان یا ټولنې غړیتوب واخلئ، ترڅو له نورو انسانانو سره د اړیکو فرصتونه ومومئ.
- ★ له اړمنو سره مرسته وکړئ او که کېږي په میاشت کې یو ځل روغتونونو تـه مخـه کـړئ او د ناروغـانو حـال احوال واخلئ.
- ★ د منطقي فکر خلک دغه مزاج هېڅ نه شي زغملی. هڅه مه کوئ، چې هغوی د خپل مزاج په اړه قانع کړئ یا یې پوه کړئ.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

مشاور، رواندرماني، ډاکټر، روحاني مشر (امام، مفتي، او داسې نور)، ټولنیز فعال، د کورنۍ روزونکی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- وده ورکوونکی (Developer)

تاسو په نورو کې بالقوه استعداد یا پوتانسیل وینئ. اصلاً خو ډېری وختونه تاسو یوازې پوتانسیل وینئ. ستاسو په اند، هېڅ وګړی هم کمال ته نه رسېدلی؛ بلکې د دې برعکس، هر وګړی د پرمختګ په حال کې دی، ژوندی دی او ګڼ امکانات یې په مخ کې دي. تاسو د همدې علت له مخې خلکو ته ور نږدې کېږئ. کله چې تاسې له نورو سره تعامل کوئ، ستاسې موخه دا وي، چې له هغوی سره مرسته وکړئ، تر څو بریالیتوب ته ورسېږي. تاسو د هغوی د ننګولو لپاره لارې چارې لټوئ. داسې زړه راښکونکې تجربې ورته پلانوئ، چې هغوی وهڅېږي او په وده کې یې مرسته وکړي. او په دې ټول جریان کې تاسو د هغوی د ودې نښو ته هم څیر یاستئ – مثلاً نوی چلند یې زده کړی یا یې پخوانی چلند بدل شوی، په یوه مهارت کې یې کوچنی پرمختګ کړی، استعداد یې زیات شوی او یا یو کار ورته نور عادي ګرځېدلی، چې پخوا ورته له خنډونو ډک وو. ستاسو لپاره دغه کوچني پرمختګونه – چې نور یې نه ویني – د بالقوه استعداد علایم دي. په نورو کې د ودې دغه نښې تاسو ته انرژي او انګېزه درکوي. دغه علایم تاسو ته ځواک او اطمینان دربښي. له وخت سره ډېری خلک تاسو ته د مرستې او انګېزې لپاره راځي، په دې چې هغوی پوهېږي، چې ستاسو مرسته رښتینې هم ده او ستاسو لپاره د اطمینان وړ هم ده.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه بې تجربې او نابلده سړي ته ډېر زیات صبور یم. – زه داسې چاته اړتیا لرم، چې کار وربااندې وکړم. – زه په خلکو کې د بالقوه استعداد او پرمختګ لیدو سره مینه لرم. – زه له ضایع شوي او پټ پاتې استعداد څخه کرکه لرم. – زه د نورو د ودې لپاره ژمنتیا (وخت او انرژي) وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ ستاسو لپاره داسې مسلک غوره دی، چې د نورو مسایل حل کړئ او په پرمختګ کې ورسره مرسته وکړئ.

★ د هغو کسانو فهرست جوړ کړئ، چې تاسو اغېزمن کړي تر څو دا مو په یاد وي، چې تاسو یو اغېزناک انسان یاستئ. په دې سره تاسو انګېزه اخلئ.

★ له داسې خلکو سره راشه درشه جوړه کړئ، چې له تاسو همکاري غواړي یا ستاسو تر لارښوونې لاندې پرمختګ کول غواړي.

★ ښوونکو او استاذانو مو چې کومې مشورې او لارښوونې درکړې، د هغو په رڼا کې د ځان د ودې لپاره هلې ځلې وکړئ.

★ له داسې خلکو ځان وژغورئ، چې پرلپسې زحمت و خواري کوي یا ډېر زیات تنقید و ګوتڅنډنې کوي. د هغوی مزاج او خبرې مو زړه در چوي او ناهیلي درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**
روزونکی، استاد، وینا، لارښود، ډاکټر، مدیر...

## ۴- همدلي (Empathy)

تاسو د شاوخوا خلکو احساسات درک کولی شئ. نور خلک څه ډول احساس کوي، تاسو یې داسې احساسولی شئ، لکه ستاسو خپل احساسات چې وي. وجداناً، تاسو د دې وړتیا لرئ، چې نړۍ د هغوی له سترګو ووینئ او د هغوی په لیدلوري کې ځان ور شریک کړئ. ضرور نه ده، چې تاسو دې د هر چا له لیدلوري سره همغږي اوسئ. دا هم ضرور نه ده، چې د هر سړي د رنځ او کړاو لپاره د خواږدي احساس وکړئ - په دې چې دا همدردي ده، همدلي نه ده. اړینه نه ده، چې تاسو د خلکو هر انتخاب ورسره ومنئ، البته درک کولی یې شئ. د درک دغه دروني وړتیا یو ځواک دی. تاسو ناویلې پوښتنې اورئ. تاسو د ضرورت اټکل کولی شئ. په کومو وختونو کې چې خلک په خبرو او الفاظو پسې سرګردانه وي، تاسو ډېر دقیق الفاظ او لهجه موندلی شئ. تاسو له خلکو سره مرسته کوئ، چې - ځان یا نورو ته - د خپلو احساساتو د بیان لپاره سم اصطلاحات او الفاظ ومومي. تاسو مرسته ورسره کوئ، چې نور خلک خپل احساساتي ژوند ته د الفاظو جامه واغوندي. دا ټول هغه لاملونه دي چې د خلکو، ستاسو حضور ته رامخه وي.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**
- زه یو احساساتي انسان یم. - زه د ژړا، خندا او عاطفي تخلیې لپاره خپلواکي ته اړتیا لرم. - زه د بشریت له لېونتوب، خفګان او خوشالۍ سره مینه لرم. - زه له هغو شیانو کرکه لرم، چې د احساساتو د اظهار مخه نیسي یا یې محدودوي. - زه احساساتي ځیرکتیا وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلک درته ګټور دی، چې د نورو په جذباتو د پوهېدو فرصت درکوي. تاسو له نورو خلکو سره د هغوی د احساساتو او د هغوی د شاوخوا کسانو د احساساتو په پوهېدو کې مرسته کولی شئ.

★ په کوم ماحول کې چې د احساساتو د اظهار فرصت نه مومئ، هلته مو زړه تنګېږي او د خپلو مهارتونو غوره استفاده درته مشکل کېږي.

★ د نورو په تړاو چې تاسو کوم احساساتي تحلیل کوئ، هغه ورسره شریک کړئ. په دې ډول به یې په تاسو اعتماد ډېر شي.

★ له نورو همدله خلکو سره په ګډه کار وکړئ. د دې طریقه دا ده، چې په کومه اداره کې چې تاسو کار کوئ، هلته همداسې خلک ولټوئ او یا که خپل کاروبار مو وي، نو په خپل ټیم کې همدا ډول اشخاص په کار وګمارئ.

★ د چوپتیا په ارزښت ځان پوه کړئ او د نورو خبرو ته غوږ ونیسئ. دا درسره د نورو د احساساتو په پوهېدو کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

★ کوم خلک چې د خپلو منفي یا تخریبي احساساتو له مخې کوم برخورد کوي، له هغوی سره په زغم او مینه برخورد وکړئ.

★ خپل دغه مزاج باید په توازن کې ولرئ، ځکه کېدی شي، چې ستاسو له همدلي او خواخوږي څخه ځینې ناوړه استفاده وکړي. داسې خلک له خپل ځانه تر یوه حده لرې وساتئ. د دوی نږدېکت زیان در رسولی شي.

★ د دندو او مسلکونو متخصصین په دې اند دي، چې تر ۲۰۳۰ز پورې به دغه وړتیا په هره دنده کې تر ټولو ډېر مهم استعداد پېژندل کېږي. [قاسم علي شاه ۲۰۲۰ز کال یاد کړی وو؛ خو د تازه څېړنو پـه تناظر کې دغه پیش بیني تر ۲۰۳۰مه پورې غځول شوې ده؛ ژ]

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

تدریس، روزنه، مشاوره...

## ۵- هماهنګي (Harmony)

تاسو د توافق او همغږۍ په نکتو پسې ګورئ. ستاسو له لیدلوري، له شخړو او اختلافاتو هېڅ هم لاسته نه راځي، نو له اختلافونو او شخړو سره ستاسې ډېره کمه راشه درشه وي. کله چې تاسو پوه شئ، چې شاوخو خلک مـو مختلف نظرونه لري، نو تاسو هڅه کوئ، چې یو مشترک ټکی پیدا کړئ. تاسو هڅه کوئ، چې خلک له تقابل څخه واړوئ او د هماهنګۍ په لور یې سوق کړئ. په حقیقت کې، هماهنګي ستاسو له مهمو ارزښتونو څخه یـو ارزښت وي. تاسو اصلاً باور نه شئ کولی، چې خلک په نورو د خپلو نظریاتو د منلو پـه هڅه کې څومره ډېر وخت ضایع کوي. «آیا دا به ډېره ګټوره نه وه، چې خپل نظرونه مو ارزولی او په ځای مو د توافق او ملاتړ لپاره هڅه کولی؟» تاسو په دې عقیده یاستئ، چې کاش موږ په همدې یاد باور ژوند کولی او تاسو پخپلـه خـو هسې هم په همدې باور ژوند کوئ. کله چې نور خلک د خپلو موخو، ادعاوو او ټینګو نظریـاتو پـه اړه چیغې وهـي، تاسو خپله ارامتیا له لاسه نه ورکوئ. کله چې نور خلک په یوه لوري زور وهي، تاسو د هماهنګۍ پـه خـاطر پـه خپله خوښه په خپلو اهدافو او نظریاتو کې بدلون راولئ او له نورو سره یـوه خولـه کېږئ. (پـه دې شرط چې د هغوی بنیادي ارزښتونه ستاسو له ارزښتونو سره ټکـر ونـه لـري.) کلـه چـې هغـوی د خپلـې خوښـې د تیـورۍ او موضوع په اړه په اختلافاتو سر شي، تاسو د بحث لوری ور بدلوئ او په ځای یـې غـوره ګڼـئ، چـې د عملـي او موجوده مسایلو په اړه وغږېږئ، هغه مسایل چې تاسو ټول پرې توافق ته رسېدلی شئ. ستاسو په اند، موږ ټول په یوه کښتۍ کې ناست یو، او د خپل سفر لپاره دې کښتۍ ته اړتیا لرو. یاده کښتـۍ یـوه ډېـره ښـکلې کښتـۍ ده او پکار نه ده، چې یوازې د خپل زور او ځواک د ښودلو لپاره یې له کاڼو سره ووهو او سورۍ یې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه ارامه او معتدل انسان يم. – زه د همغږۍ نکتو او مشترکو ټکو ته اړتيا لرو. – زه د ډلې د فعاليت د ښه والي لپاره له شخصي اجنډاوو څخه سرښندنې سره مينه لرم. – زه د تصادم له منفي اغېزو کرکه لرم. زه ارام، مينه ناك او بې شخړې سبك وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ د هرې مسئلې هغه اړخ ته وګورئ، چې عملي او ټول پرې يوه خوله وي.
- ★ په ټيم کې د مختلفو نظرونو د خلکو په ليډلوري ځان پوه کړئ. داسې په پروژه کې د ښکېلو غړو بېلا بېلې وړتياوې د کارونو په لا ښه والي کې مرسته کولی شي.
- ★ په يوه مسئله کې چې اختلاف ډېر زيات شي، نو د صبر او هماهنګۍ له استعدادونو ارومرو استفاده وکړئ. ستاسو دغه ځانګړنه په ډېر ښايسته ډول د مسايلو په حل کې مرسته کولی شي.
- ★ داسې تخنيکونه زده کړئ، چې د نظرونو د اختلاف او تصادم په ختمولو کې مرسته درسره کولی شي.
- ★ هغه مسلك چې ډېر زيات بحث او مباحثې پکې کېږي يا له بېلا بېلو خلکو سره تقابل پکې راځي، ستاسو لپاره اصلاً مناسب نه دی.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

د غونډو منتظم، د ماليو متخصص، مالي محاسب، د لوبو روزنکی او مشر، د پروژو مديريت...

## ٦- راګډوونکی (Includer)

«دايره نوره هم پراخه کړئ.» ستاسو ټول ژوند د همدې فلسفې شاوخوا را څرخېږي. تاسو غواړئ، چې په يوه ډله کې ډېر خلك درګډ کړئ او هغوی ته د اشتراك او شموليت احساس ور کړئ. تاسو له هغو خلکو سره مستقيم تضاد لرئ، چې محدودې او ځانګړې ډلې جوړوي او له داسې ډلو ډډه کوئ، چې نورو خلکو ته د ګډون فرصت نه ورکوي. تاسو غواړئ، چې خپله ډله پراخه کړئ، تر څو د يادې ډلې له ملاتړ څخه د امکان تر بريده ډېر خلك ګټه پورته کړي. تاسو له دې کرکه لرئ، چې يو داسې څوك ووينئ، چې له ډلې دباندې ناست وي او ډلې ته را ګوري. تاسو غواړئ، چې هغوی هم در ښکېل کړئ، تر څو هغوی هم د ډلې ګرموالی او تودوخه احساس کړي. تاسو له درونه منونکی انسان ياستئ. ذات، جنس، مليت، شخصيت او دين تاسو ته ډېره معنا نه لري او ډېر کم قضاوتونه کوئ. قضاوتونه د يو چا احساسات ټپي کولی شي. او چې اړتيا يې نه وي، نو ولې يو څوك قضاوتونه وکړي؟ البته ضرور نه ده، چې ستاسو منونکی طبيعت دې په دې باور بنا وي، چې له موږ څخه هر يو بېل دی او هر څوك بايد دې توپيرونو ته درناوی وکړي. بلکې، ستاسو طبيعت په دې اعتقاد ولاړ دی، چې په بنسټيزه معنا موږ ټول واحد او سره ورته يو. موږ ټول مساوي ارزښت لرو. په دې اساس، هېڅ څوك هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید له پامه ونه غورځول شي. ټول باید را شامل کړای شي. او که نور هېڅ نه وي، لږ تر لږه موږ ټول د دې مستحق خو یو، چې سره یو ځای شو.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه له ټولنیز پرېکون آګاه یم او په پایلو یې پوهېږم. - زه د هر چا لپاره تش ځای ته اړتیا لرم. – زما یو رنګي او تجمع خوښېږي. – زما محدودې ډلې نه خوښېږي. - زه د لوړې کچې رواداري او د تنوع منل وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلک غوره کړئ، چې له نورو خلکو سره د لیدو او راشې درشې فرصتونه درکوي. هغوی پوه کړئ، چې هغوی درته ارزښت لري.

★ داسې مسلک به په ځانګړي ډول تاسو ته ګټور وي، چې د بې وسو او بې ژبو د ترجماني فرصت درکوي.

★ په کومه اداره کې چې د بېلا بېلو فرهنګونو وګړي کار کوي، هلته ستاسو دغه وړتیا ډېره ګټه رسولی شي... په تېره، د نظرونو د اختلاف یا تصادم پر مهال.

★ د سازمان له چاپېریال او کارمندانو سره د نویو کسانو د اشنایي په برخه کې تاسو مهم نقش لوبولی شئ.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

مېلمنو ته د ښه راغلاست ډله، د ځوانانو رضا کار، تراپیسټ، ټولنیز فعال، خیریه بنسټونه، د بیمې استازی، د معلوماتو ځانګې مسؤل، د مشتري خدماتو مسؤل...

## ۷- فرد ګرایي (Individualization)

د تفرد یا فرد ګرایي د ځواک له مخې تاسو د هر شخص له ځانګړو خصوصیاتو سره لېوالتیا لرئ. تاسو له عمومیاتو یا «ډولونو» سره ناکراره یاستئ، په دې چې نه غواړئ د یوه شخص خاص او ځانګړی څه له پامه وغورځوئ یا یې پیکه کړئ، بلکې تاسو د بېلا بېلو افرادو ترمنځ په توپیرونو تمرکز کوئ. تاسو د هر شخص ستایل، د هر شخص انګېزه، څنګه فکر کوي او څنګه اړیکې جوړوئ، په غور څارئ. تاسو د هر شخص په ژوند کې یوې بېلې او جلا کیسې ته غوږ ږدئ. دغه ځواک یا تیم راته په ډاګه کوي، چې تاسو ولې د خپلو ملګرو لپاره د زوکړې دقیقه ډالۍ اخیستلی شئ، یا ولې پوهېږئ چې د یوه شخص د ټولو په مخ کې ستاینه خوښېږي خو بل کس ترې ځان ژغوري، او ولې تاسو د خپل تدریس سبک د یوه شخص له اړتیا سره چې پخپله یې درته ښودلی وي، عیاروئ او د بل کس دا هیله وي، چې تاسو د هغه په سبک او اړتیا پخپله ځان پوه کړئ. وجه یې دا ده، چې تاسو د نورو خلکو د ځواکونو لېواله مشاهده کوونکي یاستئ او تاسو په یوه شخص کې تر ټولو بهترین څه رابرسېره کولی شئ. د فرد ګرایي دغه ځواک له تاسو سره مرسته کوي، چې ګټور ټیمونه جوړ کړئ. په داسې حال کې چې ځینې خو د غوره ډلو په «جوړښت» یا «پروسیس» پسې ګرځي، خو تاسو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

درونه پوهېږئ، چې د غوره ټيمونو راز په فردي ځواکونو کې نغښتی دی تر څو هر شخص په هغه برخه کې ډېر کار وکړي، چې په بهتره ډول يې سرته رسولی شي.

**د ځان په تړاو يې ځرګندونې:**

- زه هر شخص ته د هغه مقام ورکوم. – زه داسې توقعاتو ته اړتيا لرم، چې په هر فرد پورې بېل، بېل مربوط شي. – زه له دې سره مينه لرم، چې خلک هغو کارونو ته وهڅوم، چې ښه يې کولی شي. زه د «ټولـو کـارونو لپـاره د يوې لارې» له ميتود څخه کرکه لرم. – زه د خلکو پېژندل او دا پوهه وړاندې کوم، چې خلک په کوم ځای کې ښه ځلېدلی شي.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ په خپل مسلک کې پوره ځان ورسوئ او تل وګورئ، چې په څه ډول په خپله ځانګه کې لا زيات مهـارت پيدا کولی شئ.
- ★ خپل ملګري او همکاران وګورئ، چې هغوی د خپل کار د ښه والي لپاره څه کوي.
- ★ د خپلو ملګرو د فردي ځانګړنو په ښه کولو کې مرسته ورسره وکړئ. که يې تاسو ته اړتيا پيښـه شي، نـو پـه ورين تندي ورته لارښوونه وکړئ.
- ★ برياليي خلک در مطالعه کړئ او وګورئ، چې هغوی په کومو شيانو منفرد انسانان جوړ شوي.
- ★ بېلا بېل خلک له بېلا بېلو لارو انګېزه اخلي. تاسو نورو ته دا ښودلی شئ، چې د دې وجـه څـه ده او ولـې بايد هر شخص د خپل شخصيت د نوعيت له مخې وهڅول شي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

مشاور، لارښود، استاذ، ليکوال، د خرڅلاو استازی، کاروباري ټرېنر...

## ۸- مثبت ګرايي (Positivity)

تاسو په ستاينه کې سخي، ژر موسکا کوونکي او تل په حالاتو کې مثبت اړخ ليـدونکی شـخص ياسـتئ. ځينـې خلک تاسو ته د بې غمه فکر کوي. ځيني فکر کوي، چې کاش د دوی د اوبو ګيلاس هـم همـدومره ډک وای، څومره چې ستاسو ډک دی. خو که هر رنګه وي، خلک غواړي، چې ستاسو په خوا کې اوسي. ستاسو پـه خـوا کې هغوی ښه احساس کوي، په دې چې ستاسو لېوالتيا او هيجان ساري دی. يو شمېر وګړي چې ستاسو انـرژي او مثبت ګرايي نه لري، فکر کوي، چې نړی يې له تکراري حادثو ډکه ده او يا تر دې لا بده دا چې لـه فشـارونو مالامال ده. تاسو يوه داسې لاره موندلی شئ، چې زړونه ارامولي. تاسو په هره پروژه کـې يـو ډراماتيـک هيجـان راوړلی شئ. تاسو لاسته راوړنې نمانځئ. تاسو داسې لارې لټولی شئ، چې هـر څـه زړه راښـکونکي کـړئ او د ژوند روح ور پو کړئ. ځينې شکاکي ډوله خلک ممکن ستاسو انرژي ورټې، خو تاسو ډېر کـم خپـل مـورال لـه لاسه ورکوئ او ستاسو مثبت ګرايي اصلاً د دې اجاز نه درکوي. په يو نه يو ډول، تاسو اصلاً له دې اعتقاده ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شئ ژغورلی چې ژوند کول په هر حال کې ښه دی؛ او دا چې کار، خوند او تفریح هم کېدلی شئ، او دا چې نیمګړتیاوې او تاوانونه یې چې هر څومره وي، هېڅ څوک باید د ټوکو و شوخۍ حس له لاسه ور نه کړي.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه خندانه، هیله مند او د تفریح مینه وال یم. – زه د ژوند د هیجان او خوند د تجربه کولو لپاره ازادي ته اړتیا لرم. – زه له دې سره مینه لرم، چې په ټوله معنا ژوند وکړم. – زه له منفي خلکو کرکه لرم، چې له نورو خلکو ژوند زبېښي. – زه ساري انرژي او لېوالتیا وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې کار ولټوئ، چې د خپل مثبت شخصیت د اظهار فرصتونه درکوي. په خپل دفتر یا ټولنه کې مو چې شاوخوا کوم خلک دي، هغوی د خپل مزاج په مرسته وهڅوئ او کوم خلک چې د ناهیلی او ناتوانۍ ښکار دي، هغوی ته جوش او جذبه ورکړئ. تاسو دا کار هغوی ته د هغوی د مسایلو د مثبتو اړخونو په ښودلو ډېر ښه کولی شئ.

★ داسې کسان ولټوئ، چې تل مثبت وي او غوره پایلې لاسته راوړي. دا خلک انګېزه دربښي.

★ په خبرو کې مو باید مثبت شخصیت ښکاره شي. تاسو باید د مثبتو او هڅونکو کیسو، تاریخي پېښو او ټوکو زېرمه ولرئ.

★ د خپلو ملګرو د بریالیتوبونو ستاینه وکړئ او لا پرمختګ ته یې وهڅوئ.

★ که زده کوونکي یاستئ، نو خپل هغه ټولګیوال چې ښه درس نه وایي یا د کومې کورنۍ ستونزې له امله پرېشانه وي، د هغوی لپاره له ناهیلۍ څخه د وتلو او لویو کارونو ته د هڅولو لپاره یې لارې چارې وسنجوئ. خپلو هغو ملګرو ته چې په منفي اړخونو تمرکز کوي، د ژوند مثبت اړخونه ور ښکاره کړئ.

★ له منفي فکره خلکو لرې اوسئ. خبرې چېنلونه مو مثبت شخصیت اغېزمنولی شي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

تدریس، بازارموندنه، د خرڅلاو استازی، تجارت، مدیریت، رهبري، روزنه...

## ۹- رابط (Relator)

رابط د اړیکو او روابطو په تړاو ستاسو چلند او برخورد بیانوي. په ساده ټکیو کې، د رابط ځواک تاسو هغو خلکو ته ورکاږي، چې تاسو یې له مخه لا پېژنئ. ضرور نه ده، چې تاسو دې له نویو خلکو سره له لیدو وشرمېږئ – امکان دې ولري، چې ستاسو نور ځواکونه به د دې سبب ګرځي، چې د نویو او ناشنا ملګرو له هیجان څخه خوند واخلئ – خو تاسو ډېر زیات کیف او ځواک له خپلو نږدې ملګرو څخه ترلاسه کوئ. تاسو له نږدېکت او رازدارانه اړیکو سره ډېره ارامتیا محسوسوئ. یو ځل مو چې ابتدایي اړیکه جوړه شي، نور تاسو په ارادي ډول غواړئ، چې اړیکه مو ژوره او عمیقه شي. تاسو غواړئ، د هغوی په احساساتو، موخو، وېرو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوبونو پوه شئ؛ او غواړئ چې هغوی ستاسو په هغو هم پوه شي. تاسو پوهېږئ، چې دغه ډول نږدېکت ځان سره تر یوه بریده ګواښ هم راوړي – ممکن له تاسو ناوړه استفاده وشي – خو تاسو دغه ګواښ ته هم غاړه ږدئ. ستاسو لپاره یوه اړیکه یوازې هغه مهال ارزښت لري، چې رښتینې وي. او د یوې اړیکې په رښتینولۍ د پوهېدو یوازینۍ لاره دا ده، چې خپل ځان بل شخص ته وسپارئ. تاسو چې څومره یو بل سره خپل رازونه شریکوئ، هماغومره مو ګواښ زیاتېږي. څومره چې ستاسو ګواښ زیاتېږي، هماغومره تاسو دا په ثبوت رسوئ، چې ستاسو اړیکه او د یو بل لپاره احساس رښتونی دی. د واقعي ملګرتیا لپاره همدا ستاسو پړاوونه دي، او تاسو په خپله خوښه دغه پړاوونه وهئ.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه رښتونی او سوچه انسان یم. – زه د «یو – په – یو» اړیکو لپاره وخت او فرصتونو ته اړتیا لرم. – زما نږدې، مشترکې او احساس لرونکې اړیکې خوښېږي. – زه له نوي شخص سره د لیدو په وخت کې له ابتدایي اجتماعي نارامتیا څخه کرکه لرم. – زه ټولنیز عمق او شفافیت وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ د کار داسې چاپېریال درته ولټوئ، چې په کاروباري کلچر کې یې له ملګرو سره اړیکو ټینګولو ته وهڅول شئ.
- ★ د نویو اړیکو جوړولو تمرین وکړئ. دا کار ستاسو لپاره مشکل دی، خو په تمرین سره ښه کېدلی شئ.
- ★ له کومو خلکو سره چې وینئ، له هغوی پوره، پوره زدکړه وکړئ.
- ★ نور خلک باید پوه شي، چې تاسو د هغوی له دندې یا څوکۍ څخه زیات د هغوی له کردار او شخصیت سره دلچسپي لرئ. دا ستاسو هغه لویه وړتیا ده، چې تاسو ته د خلکو په وړاندې لوی مقام درکوي.
- ★ له خپلې کورنۍ او ملګرو سره وخت تېر کړئ. د خپل رابط ځواک د پیاوړتیا لپاره پکار ده چې خپلې ګرانبیه شېبې له نږدې او مینه ناکو خلکو سره تېرې کړئ. خپل مصروفیتونه داسې ترتیب کړئ، چې له هغو خلکو سره د ډېر وخت تېرولو فرصت په لاس درشي، چې د خوشالۍ سبب مو ګرځي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

په روغتون کې خدمات، روزونکی، مشاور، د ښوونځي مدیر، د بشري منابعو مدیر...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج) د اغیز ښندنې اړوند ځواکونه (Influencing)

### ۱- فعال (Activator)

«کله یې پیلوو؟» دا هغه پوښتنه ده، چې ستاسو په ژوند کې تل تکرارېږي. تاسو کار ته بې صبره او لېواله یاستئ. و دې شي، چې تاسو به دا منئ، چې تحلیل و تجزیه خپلې ګټې لري او دا چې بحث و مباحثه هم کله نا کله ارزښتناک اندونه او لارې روښانولی شي، خو په درون کې تاسو پوهېږئ، چې یوازې عمل واقعي شی دی. یوازې د عمل په مرسته کارونه سرته رسېږي. یوازې عمل وړتیا او استعداد منځته راوړي. یو ځل چې تصمیم ونیول شو، بیا نو تاسو دا نه شئ کولی، چې عمل ونه کړئ. نور خلک به اندېښمن وي، چې «ممکن ځینې اړخونه لا هم شته، چې روښانه نه دي او مونږ پرې نه پوهېږو»، خو دغه ټکی تاسو نه ټکني کوي. که تصمیم نیول شوی وي، چې له ښاره باید ووځو، تاسو پوهېږئ، چې د دې کار تر ټولو اسانه لاره دا ده، چې سامان وتړه او ترافیکي اشارې لنډوه. تاسو په دې تمه ارامه نه کېنئ، چې یو ځل دې ټولې اشارې شنې شي. بله دا چې، ستاسو په اند، عمل او تفکر د یو بل په خلاف هم نه دي. په اصل کې، تاسو چې د فعال ځواک له مخې حرکت کوئ، تاسې په دې باور یاستئ، چې عمل د زدکړې لپاره تر ټولو ښه وسیله ده. تاسو تصمیم نیسئ، عمل کوئ، پایله وینئ، او زدکړه کوئ. دغه زدکړه تاسو ته راتلونکی عمل او بیا ورپسې راتلونکی عمل درښیي. څنګه به وده وکړئ، که د غبرګون لپاره هېڅ شی هم ونه لرئ. سمه ده، تاسې به په دې باور یاستئ، چې یو کار نه شئ کولی. نو هڅه خو باید وکړئ، خپل ځان خو وازمایئ. باید راتلونکی ګام واخلئ. او همدا هغه یوازینۍ لاره ده، چې خپل تفکر مو تازه او اګاه ساتلی شئ. تر ټولو مهم ټکی دا دی چې: تاسو پوهېږئ، چې د خپلو خبرو په اساس نه تلل کېږئ، نه هم دا چې تاسو څه فکر کوئ، بلکې د خپل کار او پایلې له مخې تلل کېږئ. دغه خبره تاسو ته وېره نه ایجادوي، بلکې خوښي درښيي.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زما بې فعالیتي او کراري ناستې ته صبر نه کېږي. – زه کمو خبرو او ډېر کار ته اړتیا لرم. – زه له پیل او اقدام سره مینه لرم. - زه له انتظار او وخت تېرولو نه کرکه لرم. – زه د کارونو د چټکوالي لپاره د ګړندتیا حس وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې دنده ولټوئ، چې د تصمیم نیولو او په هغو د عمل کولو واک ولرئ او د خپلو پرېکړو د منل کېدو لپاره انتظار ونه باسئ.

★ په ډله یا ټیم کې چې کار کوئ، نو د خپل کار مسؤلیت ومنئ.

★ د بهیر او پروسې په اړه د غږېدو په ځای په پایلو غور او خبرې اترې وکړئ. داسې به له اخوا دېخوا بحث و مباحثې خوندي او وخت به مو سپمېدلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ★ تاسو ناسم تصمیمونه هم نیسئ، په دې چې دا ستاسو د شخصیت ځانګړنه ده، نو د همدې لپاره کـه غلـط تصمیم مو ونیوه، نو د وارخطایي په ځای خپله تېروتنه ومنئ او دا وښیئ، چې له خپلې غلطې فیصلې څخه مو څه زدکړه وکړه.
- ★ دا هم په ذهن کې ولرئ، چې د عمل لپاره ستاسو ناکراري په نورو کې وېره هم پیدا کولی شي.
- ★ دا چې تاسو عمل ته ناکراره یاستئ، له همدې امله په فکر باندې ډېر وخت تېرول مو ازرده کوي. دا ستاسو لویه کمزوري ده، نو د کار په ځای کې له داسې خلکو سره ناسته ولاړه وکړئ، چې ډېر زیات غـور و فکـر کوي. په دې ډول به مو نظریات نوي اړخونه ومومي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**
د خرڅلاو استازی، بازارموندنه، عسکر، تجارت، د شرکت اجرایوي مدیر، د فلمونو یا ټلویزون ډایرکټر...

## ۲- امر (Command)

د امر ځواک تاسو سره مرسته کوي، چې مسؤلیت ومنئ او کنټرول په لاس کې واخلئ. د ځینو خلکو بـرخلاف، تاسو په نورو باندې د خپلو نظریاتو په تپلو کې هېڅ ډول نارامتیا نه احساسوئ. بلکې، یو ځـل چـې یـو نظـر مـو جوړ شو، نو تاسو یې لازمه ګڼئ، چې له نورو سره یې شریک کړئ. یو ځل چې یوه موخه وټاکل شوه، نو تاسو تر هغو ناکراره یاستئ، چې نور هم له دې موخې خبر کړئ. تاسو له تقابل او مخامختیا څخه هېڅ وېـره نـه لـرئ، بلکې پوهېږئ، چې تقابل او مخامختیا د اصلاح او توافق لومړنی ګام دی. حال دا چې نور خلک ممکن د ژونـد له سختیو او ستونزمنو هغو سره له مخ کېدو ډډه وکړي، خو تاسـو یـو ډول ځـان مجبـوره ګڼـئ، چـې حقـایق او واقعیتونو را برسېره کړئ، هېڅ توپیر نه کوي، چې دغه حقایق څومره ترخه دي. تاسو په دې انـد یاسـتئ، چـې د دوو کسانو ترمنځ هر څه باید واضح وي او خلک ننګوئ، چې رښتیني او ایمانداره اوسي. تاسو خلـک ګـواښ منلو ته تېل وهئ. حتی و دې شي د دې کار لپاره یې ووېروئ. ممکن ځینې مو دا کار ښـه ونـه ګڼـي او تاسـو د خپل نظر تحمیلوونکي وګڼي، خو اکثره وختونه همدا خلک د واک او ځواک واګې ستاسو په لاس کې درکوي. خلک هغو کسانو ته ځان نږدې کوي، چې یو دریځ نیولی شي او خلکو ته ویلی شي، چې په کوم لوري حرکت وکړي. له همدې امله، د خلکو ستاسې خواته در مخه وي. تاسو تل موجود یاستئ. او «امر» ستاسو په لاس کـې وي.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**
-زه ژمن او مصمم سړی یم. –زه ننګونو او مسایلو ته اړتیا لرم. –زه په داسې حالاتو کـې د کنټـرول راوړلـو سره مینه لرم، چې له کنټروله وتلي وي. –زه له عدم فعـالیتي او اعـراض څخـه کرکـه لـرم. –زه احساسـاتي شـفافیت وړاندې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلك ولټوئ، چې تاسو پكې يو واضح او اغېزناك مقام ولرئ او په نورو اغېز وكولى شئ.
★ خپل اواز او لهجې ته غور وكړئ، كه جابرانه طرز پكې وي، نو هڅه وكړئ، چې كم يې كړئ. ستاسو په خبرو كې بايد د امرانه انداز په ځاى تشويقوونكى انداز محسوس شي.
★ د اړيكو د ښه والي لپاره په خبرو كې نرمي راولئ او په حساسو مسايلو كې د خپل نظر د بيانولو پرمهال په دليل وغږېږئ، خو دليل مو هم په نرمه ژبه وړاندې كړئ.
★ خپل ملګري د اهدافو ټاكلو او لاسته راوړلو ته وهڅوئ.
★ خپل ژوند ته يو لوى هدف وټاكئ، تر څو امرانه ځواك مو خپل هدف ته د رسېدو وسيله وګرځي. كه هدف نه وي، نو د خداى له دومره لويه نعمته به پوره استفاده ونه شئ كولى.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلكونه:**

پوليس يا د پوځ قومندان، د شركت رئيس، د خرڅلاو استازى، د فلم يا ټلويزون ډايركتر، د پرچون برخې مسؤل، تدريس...

## ۳- افهام و تفهيم (Communication)

ستاسو خوښېږي، چې تشريح وكړئ، توضيح وكړئ، يوه موضوع روښانه كړئ، كوربه توب وكړئ، وېناوې وكړئ، او ليكوالي وكړئ. په دې ټولو ډګرونو كې ستاسو د افهام و تفهيم ځواك يا تيم (theme) په عمل كې وي. نظريات ستاسو لپاره د پيل ټكى دى. پېښې ستاتيكې او د سكون په حالت كې دي. تاسو دا اړتيا احساسوئ، چې نظريات بايد را ژوندي شي، له انرژي مالا مال شي، هيجان پكې راوړل شي او روښانه شي. له همدې امله تاسو پېښې په كيسو بدلوئ او د كيسو ويلو تمرين كوئ. تاسو يوه وچه نظريه در اخلئ او د انځورونو، تشبيهاتو، مثالونو او استعارو په مټ د ژوند سا پكې اچوئ. تاسو په دې عقيده ياستئ، چې د زياترو خلكو د تمركز دوران ډېر لنډ وي. هغوى ته ډېر زيات معلومات وركول كېږي، خو ډېر كم يې ور پورې غوټه كېږي، نور په يوه غوږ د اورېدو او په بل د ويستو كيسه وي. تاسو غواړئ، چې ستاسو معلومات بقا وكړي ــ هغه كه يوه نظريه وي، يوه پېښه، د يوه توليد مشخصات او فوايد، يوه اختراع، يا يو درس وي. تاسو غواړئ، چې د خلكو توجو و تمركز تاسو ته واوړي؛ تاسو دغه تمركز ځان سره ونيسئ او قبضه كوئ يې. په همدې هڅه كې تاسې د يوې خبرې يا مفكورې لپاره په مناسبو كلماتو او اصطلاحاتو پسې ګرځئ. همدغه شى تاسو د ډراماتيكو كلماتو او ځواكمنو كلمو تركيباتو ته لمسوي. همدا وجه ده، چې د خلكو تاسې ته غوږ نيول خوښېږي. ستاسو لفظي انځورونه د هغوى لېوالتياوې را ويښوي، نړۍ يې ور صيقل كوي او د عمل لپاره الهام ور ښښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه يو تفريحي مکالمه جوړوونکی انسان يم. - زه يوه دريځ او اورېدونکو ته اړتيا لرم. - زه له کيسو او کيسه ويونکو سره مينه لرم. - زه له ناڅرګند شويو تجربو څخه کرکه لرم. - زه د مهمو پيغامونو اورېدو ته تمرکز وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلک غوره کړئ، چې له خلکو سره د راشې درشې او خبرو اترو ښه ډېر فرصتونه په لاس درشي.
★ کيسې، مقالې، الفاظ او متلونه جمع کړئ. دا تاسو ته انګېزه درکوي.
★ چې کتابونه مطالعه کوئ، په لوړ غږ يې لولئ ... داسې به مو د ابلاغ وړتيا ښه شي.
★ د خبرو په وخت کې نظر په ګډونوالو وساتئ او وګورئ چې خلک درته متوجه دي که نه؟
★ چېرته چې موکه په لاس درشي، داوطلب سيمينار وړاندې کړئ يا خبرې وکړئ. داسې به مو د خبرو کولو تلوسه په ارامه وي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

د عامه اړيکو مدير، د ټلويزون کوربه، د تولنيزو رسنيو مدير، انلاين محتوا ليکونکی، بلاګ ليکونکی، سياسي رهبر، کاپي رايټر، د خرڅلاو استازی، د برانډ مدير، تدريس، تصنيف و تاليف، د معلوماتو ځانګې مسؤل، د مشتري خدماتو مسؤل...

## ۴- سيالي (Competition)

د سيالي ريښه، مقايسې يا پرتلنې ته غځېدلې ده. تاسو چې کله نړۍ ته ګورئ، په لاشعوري ډول د خلکو وړتيا او استعداد درک کولی شئ. د هغوی وړتيا ستاسو لپاره معيار او زرکاڼي وي. هېڅ توپير نه کوي، چې تاسو څومره زيار کاږئ، هېڅ توپير نه کوي، چې ستاسو موخې څومره ارزښتناکې دي، که تاسو خپلو موخو ته ورسېدلئ، خو خپل ملګري يا رقيبان مو شاته پرې نه ښودل، تاسو ته خپله لاسته راوړنه هېڅ ښکاري. د نورو سيالانو په څېر، تاسو خلکو ته اړتيا لرئ. تاسو بايد پرتله او مقايسه وکړئ. که تاسو مقايسه وکړئ، تاسو سيالي کولی شئ، او که سيالي وکړئ، تاسو يې ګټلی شئ. او کله يې چې وګټئ، نو بيا د دې ډول احساس هېڅ بديل نه پېژنئ. تاسو اندازه ګيري خوښوئ، په دې چې د اندازه ګيري په مټ تاسو مقايسه کوئ. تاسې له خپلو سيالانو ښه وړئ، په دې چې ستاسو د تشويق او انګېزې سبب ګرځي. ستاسو مسابقې خوښېږي، په دې چې تاسو بايد ګټونکي راشئ. په تېره هغه مسابقې مو زياتې خوښېږي، چې تاسو پوهېږئ، چې د بريا لپاره يوه واسطه يا سفارش هم لرئ. که څه هم تاسو د خپلو سيالانو درناوی کوئ او ان د خپلې ماتې شکايت او ګيله هم نه کوئ، خو تاسو سيالي د رقابت او مسابقې د هدف و خوند لپاره نه کوئ. تاسو د ګټلو او بريا په خاطر سيالي کوئ. له همدې امله، له وخت سره له هغو مسابقو واټن نيسئ، چې نور هلته بريا ناشوني در ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه له خپلو سیالانو خبر لرم. - زه د مقایسې او انګېزې لپاره سیالانو ته اړتیا لرم. - زه له دې سره مینه لرم، چې له بهترین لوبغاړي سره ډغرې ووهم. - زه دوهم مقام له ګټلو څخه کرکه لرم. - زه د بهترین مقام لپاره انګېزه او الهام وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ په سازمان کې داسې چاپېريال غوره کړئ، چې د خپل استعداد او وړتیا اندازه در معلومه شي.
- ★ هره ورځ خپل استعداد اندازه کړئ او که کېږي، نو د اندازه ګیري لپاره یو سیستم جوړ کړئ، تر څو کله چې له نورو سره ځان پرتله کوئ، نو خوند ترې واخیستلی شئ.
- ★ داسې ملګري پیدا کړئ، چې له مسابقې او سیالۍ خوند اخلي او له تاسو سره رقابت وکړي.
- ★ عادي کارونه هم د سیالۍ او رقابت په ډول ترسره کړئ. په دې ډول به د ډېر کار کولو فرصت په ګوتو درشي او فطري مزاج به مو هم پیاوړی شي.
- ★ د ماتې په صورت کې داسې ذهني تمرینونه وکړئ، چې سکون در وبښي او طبیعت مو ارامه کړي.
- ★ خلکو ته ووایئ، چې تاسو ولې سیالۍ او بریا غواړئ.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

ورزشکار، د خرڅلاو استازی، کاروباري مشر، بانکوال، نړیواله بازارموندنه...

## ۵- لویوونکی (Maximizer)

ستاسو کمه پیمانه، عالي ده، په اوسط مو زړه اوبه نه څښي. یو شی له ټيټې درجې څخه یو څه پورته درجې ته وړل ډېره زیاته خواري او هلې ځلې غواړي او دا ستاسو په نظر ډېر ګټور کار نه دی. خو یو شی له قوي څخه په زبردست شي بدلول هم همدومره خواري غواړي، خو خوند او هیجان یې ډېر زیات دی. ځواکونه او استعدادونه، هغه که ستاسو خپل وي یا د بل، ستاسو لپاره د دلچسپي موردونه دي. هغسې چې په ملغلرو پسې یو غوطه‌خور غوټې وهي، تاسو په ځواکونو پسې غوټې وهئ او د ځواک په معلومو او ښکاره نښو پسې ځیر یاستئ. له زدکړې پرته ترلاسه شوی استعداد، چټکه زدکړه، له تاکلو پړاوونو پرته یو مهارت زده کول، دا ټول د دې نښې دي، چې یو شخص له یوه ځانګړې ځواک څخه برخمن دی. او یو ځل چې تاسو یو ځواک وموند، تاسو ځان مجبوره احساسوئ، چې اوس وده ورکړئ، صیقل یې کړئ او تر عالي او لوړې کچې یې وغځوئ. تاسو ملغلره تر هغو پورې صیقل کوئ، چې ځلا یې سترګې وبرېښوي. د ځواکونو دغه فطري درک په دې معنا دی، چې نور خلک تاسو ته د توپیروونکي شخص په سترګه ګوري. تاسو خپل ډېر وخت له هغو خلکو سره تېروئ، چې ستاسې ځانګړو ځواکونو ته د ارزښت په سترګه ګوري. دغه راز، تاسو هغو خلکو سره هم دلچسپي ښيئ چې خپل پټ ځواکونه یې کشف کړي یا نوي ځواکونه ترلاسه کړي وي. تاسو له هغو کسانو څخه ځان ګوښه کوئ، چې غواړي تاسو اصلاح کړي او یا مو تېرې ببرې در بیاتي کړي. تاسو له هغو خلکو سره وخت نه تېروئ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه څه ماتم کوي، چې تاسو يې نه لرئ. بلکې، تاسو په هغو ډاليو او پېرزوينو سرمايه ګذاري کوئ، چې تاسو ترې برخمن ياستئ، ځکه دا کار لا ډېر خوند و تفريح لري، ډېر ګټور دی، او له عملي اړخه يې تقاضا هم ډېره ده.

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه استعداد ته ژمن انسان يم. – زه وايم، چې کيفيت هم بايد د کميت هومره اهميت ولري. - زه مينه لرم، چې له سرمايې څخه حد اکثر عوض ترلاسه کړم. – زه د کمزورتياوو له اصلاح څخه کرکه لرم. - زه پـر کيفيـت ټينګـار وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې کار ولټوئ، چې د نورو د کاميابولو لپاره د مرستې فرصت درکول شي.

★ د استعداد د معلومولو لپاره خپل معيارونه وټاکئ. دا به درسره د ځان او نورو د استعداد په انـدازه کولـو کـې مرسته وکړي.

★ په خپلو وړتيا فوکس وکړئ. تل د نويو معلوماتو په لټه کې اوسئ او خپل مهارتونه تمرين کړئ.

★ موخې وټاکئ. د همکارانو، ټولنې او کورنۍ د غړو د بهترۍ او نمو لپاره د خپلو وړتياوو د استفادې په لارو چارو غور وکړئ.

★ د برياليتوب ادبيات مطالعه کړئ. هغه خلک چې خپلې وړتياوې يې موندلې او بهـتره کـړې دي، د هغـوی ژوند مشاهده کړئ.

★ په خپلو کمزوريو واکمن شئ. داسې ملګري ولټوئ، چې د کمزورتياوو په ختمولو کې درسره مرسته وکړي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

روزونکی، لارښود، مدير، استاذ، لوبغاړی...

## ٦- خود اطميناني (Self-Assurance)

ځان ډاډېينه له خود اعتمادي سره ورته ده. د خپل درون په ژورو کې، تاسې په خپلو ځواکونو ايمان و باور لرئ. تاسو پوهېږئ، چې تاسو وړ ياستئ – وړ ياستئ، چې ګواښونه ومنـئ، نويـو ننګونـو تـه غـاړه ورکـړئ، ادعـاوې وکړئ، او تر ټولو ډېره مهمه دا ده، چې د پای ته رسولو وړتيا لرئ. خو ځان ډاډېينه تر خود اعتمادي ډېره لويه او پراخه معنا او ساحه لري. تاسو چې د خود اطميناني يا ځان ډاډېينې له ځواک څخه بـرخمن ياسـتئ، يـوازې پـه خپلو وړتياوو باور نه لرئ، بلکې په خپلو قضاوتونو يې هم لرئ. تاسو چې کله نړۍ تـه ګـورئ، تاسـو پـوهېږئ، چې ستاسو ليدلوري ځانګړی او بېل دی. او دا چې هېڅ څوک هم کټ مټ هغه څه نـه وينـي، چـې تاسـو يـې وينئ؛ تاسو پوهېږئ، چې هېڅ څوک هم ستاسو لپاره تصميمونه نه شي نيولی. هـېڅ څـوک تاسـو تـه دا نـه شي ښودلی، چې څه فکر وکړئ. دوی تاسو لارښوونه کوي او وړانديزونه درکوي. خو پـايلې تـه د رسـېدو، تصـميم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولو او اقدام کولو واک او اتارټي یوازې له تاسو سره وي. دغه اتارټي او د خپل ژوند تېرولو لپاره دغه وروستۍ مسؤلیت پذیري ستاسو په درون کې وېره نه ایجادوي. بلکې، تاسو یې طبیعي ګڼئ. حالات چې هـر رنګـه وي، تاسو په دې پوهېږئ، چې سمه پرېکړه څه شی ده. دغه ځواک یا تیم تاسو ته د یقین او ګروهـې اورا دربښـي. د ډېرو خلکو پرخلاف، تاسو د بل کس په قضاوتونو په اسانه نه غولېږئ، توپیر نه کوي، چې قضاوتونه یې څـومره تشویقوونکي یا انګېزه ښېبونکي دي. دغه ځان ډاډېینه یا خود اطمیناني ممکن خاموشه وي او یـا ممکـن چیغـې ووهي، چې دا ستاسې په نورو تیمونو یا ځواکونو پورې اړه لري، خو یوه خبره ده، چې خوداطمیناني مو پخـه او کوټلې وي. قوي وي. او د ببرې د ملا د تیر غوندې د ببلا ببلـو فشـارونو او ربـړو پـر وړانـدې مقاومـت کـوي او انحراف ته مو نه پرېږدي.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- هغه مهال چې شاوخوا شکونه او شبهات وي، زه په خپل درون باوري یم. –زه په یوازې ځان او خپلواکه توګه د اقدام لپاره ازادي ته اړتیا لرم. –زه مینه لرم، چې د خپل برخلیک کنټرول په لاس کې ولـرم. -زه لـه دې کرکـه لرم، نور خلک راته ووایي، چې زه باید څه وکړم. –زه د اړینو ګواښونو منلو ته رضایت وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ ستاسو لپاره داسې مسلک او چاپېریال غوره دی، چې تصمیمونه دربارندې مسلط نه شي، بلکې په خپل کار کې پخپله د تصمیم نیولو واک درسره وي. په داسې ځایونو کې به له کار کولو خوند واخلئ.
- ★ په خپل خدای درکړي وجدان بروسه ولرئ او خلکو سره په تصمیم نیولو کې مرسته وکړئ. خلک مو چې دغه خود اطمینانيویني، ګوته په غاښ به پاتې وي.
- ★ کېدلی شي، ځینې خلک مو مغرور یا ضدي وګڼي؛ دا د هغوی خپل نظر دی، تاسو اړتیا نـه لـرئ، چـې د خپل مزاج په بدلولو فکر وکړئ.
- ★ خلکو ته دا روښانه کړئ، چې تاسو د نورو خلکو نظرونه هم اورئ او درناوی ورته لرئ. خو، په یوه مسئله باندې د پوهېدو لپاره خپل انداز لرئ او هغه له نورو بېل دی.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

مدیریت، حقوق، فروشات، شخصي کاروبار، د ډرامې یا فلم ډایرکټر/ پروډیوسر...

## ۷- اهمیت (Significance)

تاسو غواړئ، چې د نورو خلکو په سترګو کې ډېر زیات مهم او ارزښتناک شخص اوسـئ. پـه رښـتیني معنـا کـه وغږېږو، تاسو غواړئ وپېژندل شئ او مشهور و معروف شئ. غواړئ، چې خبره مو واورېدل شي. غواړئ، چې له نورو بېل او متفاوت اوسئ. غواړئ، چې نومیالي شئ. په تېره، تاسو غواړئ، چې د خپلو ځانګړو ځواکونو لـه مخې مشهور شئ او د ارزښت په سترګه درته وکتل شي. تاسـو د بـاور وړ، مسـلکي او بریـالي انسـان پـه توګـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستایل کېدو یوه اړتیا احساسوئ. بله دا ده، چې تاسو غواړئ، چې له نورو داسې خلکو سره چې باور وړ، مسلکي او بریالي وي، ملګرتیا او ملتیا ولرئ. او که هغوی دغه خصوصیات ونه لري، تاسې یې تر هغو پورې هڅوئ، چې هغوی دا هر څه لاسته راوړي. که نه نو، تاسو په مخ ځئ او هغوی پرېږدئ. تاسو چې یوه خپلواکه اروا لرئ، غواړئ چې کار مو د ژوند طرز اوسي، نه دنده؛ او په دغه کار کې تاسو غواړئ، چې واګې مو ازادې پرېښودل شي، او زړه مو وي، چې هر کار په خپله خوښه او طبعه برابر وکړئ. ستاسو ارمانونه ډېر شدید وي او دغو ارمانونو ته ډېر زیات درناوی لرئ. له همدې امله ستاسو ژوند له موخو، لاسته راوړنو او علمي او تعلیمي کارونو ډک وي. ستاسو فوکس چې په هر څه وي – او هر شخص په دې برخه کې مختلف دی – ستاسو د اهمیت ځواک تاسو تل بره خوا ته کشوي او له عادي او متوسطې دایرې څخه مو د استثنا په لور سوق کوي. دا هغه ځواک دی، چې تاسو تل د ترلاسي په لور روان ساتي.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه له دې سره دلچسپي لرم، چې د یوه مهم شخص په توګه وپېژندل شم، تر څو یو مهم څه لاسته راوړم. – زه داسې خلکو ته اړتیا لرم، چې زما بهترین اړخ را برسېره کړای شي. – زه د بریالیو خلکو له ملګرتیا او ملتیا سره مینه لرم. - زه له ګمنامي او د نورو له خوا له بې پامه نیول کېدو څخه کرکه لرم. – زه د لا زیاتې تقاضا لپاره رضامندي وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلک غوره کړئ، چې په ازاده توګه د کار کولو او د خپل رفتار د ټاکلو فرصت درکول شي.

★ د خپل مهارت او تجربې پر بنسټ داسې فرصتونه ولټوئ، چې تاسو ته له خلکو سره د خبرو، مقالو لیکلو او تر نورو پورې د خپلې خبرې د رسولو فرصت درکوي. دغه ټول کارونه د نورو په منځ کې یو واضح او روڼ مقام درکوي.

★ د خپلو لویو هیلو فهرست جوړ کړئ او خپلې مخې ته یې کېږدئ. هر کله چې مایوسي او تنبلي دربانده راشي، نو د خپلو هیلو دغه فهرست وګورئ، په درون کې به مو بېرته هیجان را بیدار شي.

★ خپل خوبونه او موخې له خپلې کورنۍ، نږدې ملګرو او انډیوالانو سره یادې کړئ. داسې به انګېزه ترلاسه کوئ.

★ ستاسې وړتیاوې او مهارتونه په داسې چاپېریال کې ښه وده کوي، چې ډېر انعطاف او نرمښت ومني. په کومه اداره کې چې تنګ او توند قوانین وي، ستاسو خلق تنګېږي. دغسې ځایونو کې خپل استعداد نه شئ ښودلی.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

ډایرکټر، پروفیسور، ډاکټر، سندرغاړی، هنرمند، شخصي کاروبار...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۹- په نورو ګرانښت (WOO – Winning Others Over)

په نورو ګرانښت دا چې، د نورو زړه لاسته راوړې او د ځان ملګري يې کړې. تاسو له نويو خلکو سره د ملاقات له ننګونې او د هغوی له ګرانښت ترلاسه کولو څخه خوند اخلئ. ناشنا او پردي خلک ستاسو لپاره اصلاً وېروونکي نه دي. بلکې ناشنا وګړي تاسو ته انرژي او هيجان درکوي او په ځان کې د هغوی په لور ميلان وينئ. تاسو غواړئ، چې د هغوی نومونه زده کړئ، پوښتنې ترې وکړئ او ترمنځ مو مشترک ټکي را برسېره کړئ، تر څو يوه مکالمه ورسره پيل کړئ او صميميت او ملګرتيا جوړه کړئ. ځينې خلک ممکن له شرمه خبرې نه شي پيلولی، په دې چې هغوی په دې اړه اندېښنه لري، چې څه ووايي. خو تاسو داسې نه ياستئ. تاسو ته نه يوازې دا چې خبرې نه در ختمېږي، بلکې له پرديو سره د خبرو له پيلولو خوند هم اخلئ، ځکه چې تاسو د کنګل له ماتولو او د اړيکې له جوړولو اطمينان ترلاسه کوئ. يو ځل مو چې اړيکه جوړه شوه، بيا نو ستاسې لپاره کار اسانېږي او نور مخکې ځئ. ستاسو لپاره تل نوي خلک شته، چې ملاقات ورسره وکړئ، د کار لپاره نوي ځايونه لرئ او د ښکېلتيا لپاره نوې ګڼه ګونه وينئ. په دنيا کې ستاسو لپاره پردی څوک نه وي، يوازې هغه ملګري وي، چې تاسو لا ورسره نه دي ليدلي – او هغه هم ډېر زيات ملګري!

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه ښکېلوونکی روغبړ کوونکی انسان يم. – زه د ملاقات لپاره نويو خلکو، د کار لپاره نويو موقعيتونو، او د ښکېلتيا لپاره نويو غونډو ته اړتيا لرم. – زه مينه لرم، چې له داسې چا سره ملاقات وکړم، چې پخوا مې نه وي ليدلی. – زه له ستاتيک يا محدود ټولنيز جال څخه کرکه لرم. - زه په ټولنيزو مواقعو کې انرژي وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې دنده ولټوئ، چې د ورځې په جريان کې له ګڼ شمېر نويو او پخوانيو کسانو سره د ليدو فرصت په لاس درشي.

★ تاسې چې کوم خلک پېژنئ، له هغوی سره مضبوطه شبکه جوړه کړئ او په مياشت کې يو ځل ورسره ووينئ.

★ په محلي رضاکارو سازمانونو کې غړيتوب واخلئ او د خپلې سيمې په ټولنيزو غونډو کې ګډون وکړئ. په دې ډول به د وړتيا د اغېزناک کولو ښه فرصت په لاس درشي.

★ د خپلې پېژندګلوۍ د خلکو په تړاو معلومات جمع کړئ، لکه د هغوی د زېږېدو نېټې، لېوالتياوې او داسې نور. وخت په وخت له هغوی سره په دې اړه اړيکه هم ونيسئ.

★ له خپل پېژندګلو سره چې کله وينئ، نو د شخصي او کاري مسايلو په اړه هم لږ و ډېر معلومات ترې واخلئ. او که د کومې ستونزې په حل کې ورسره مرسته کولی شئ، نو ارومرو وړانديز ورته وکړئ. په دې ډول به مو نه يوازې د ملګرو کړۍ لا پياوړې شي، بلکې ستاسو دغه فطري وړتيا د قربِ الهي ذريعه هم ګرځېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

د غونډو منتظم، اداکار، هنرمند، سندرغاړی، د سازمانونو ټرېنر، د خرڅلاو استازی، مشتري خدماتو مسؤل، د عامه اړیکو افسر...

## د) د سرته رسونې اړوند ځواکونه (Executing)

### ۱- لاسته راوړونکی (Achiever)

ستاسو د «لاسته راوړونکي» ځواك دا روښانوي، چې څه شی تاسو تحریکوي او حرکت درکوي. لاسته راوړونکی تیم د لاسته راوړلو یوه دوامداره اړتیا راته بیانوي. تاسو داسې احساسوئ، چې ګواکې هره ورځ مو په صفر پیلېږي. خو د ورځې تر پایه پورې تاسو باید یو ملموس او محسوس شی لاسته راوړئ، تر څو د ځان په اړه ښه احساس وکړئ. او له «هرې ورځې» ستاسو هدف هره ورځ وي – د اونۍ ورځې، د رخصتۍ ورځې، موسمي رخصتۍ او داسې نور. هېڅ توپیر نه کوي، چې هر څومره دا احساس درسره وي، چې یوه ورځ خو د ارامتیا مستحق هم یاستئ، خو که یوه ورځ هم له کومې لاسته راوړنې پرته تېره شي، فرق نه کوي، چې وړه هم وي، تاسو ناکراره او پرېشانه کېږئ. ستاسو په درون کې یو داخلي اور لمبې وهي. دغه اور مو د لا ډېر کار په لور او د لا ډېرو لاسته راوړنو په لور لمسوي. او کله چې یوې لاسته راوړنې ته ورسېږئ، ستاسو اور د یوې شېبې لپاره خاموشه کېږي، خو ډېر ژر خود بخود روښانېږي او د یوې بلې لاسته راوړنې په لور مو تحریکوي. د دوامداره او پرلپسې لاسته راوړنو دغه اړتیا ممکن ډېره منطقي نه وي. و دې شي، چې ډېره متمرکزه هم نه اوسي. خو دغه اړتیا تل ستاسو په درون کې وي. د «لاسته راوړونکي» په توګه تاسو باید د نارضایتي له دې خاموشه اواز سره ژوند کول زده کړئ. دغه جذبه خپلې ګټې هم لري. تر اوږدو ساعتونو پورې د کار انرژي درکوي، بې له دې چې د ستړیا احساس وکړئ. دا هغه جرقه ده، چې د نویو کارونو او نویو ننګونو د منلو لپاره پرې حساب کولی شئ. دا د ځواك هغه سرچینه ده، چې رفتار مو تعینوي او د خپل ټیم په منځ کې مو د ګټورتیا کچه ټاکي. دا هغه تیم دی، چې په مخ مو بیایي.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه زیارکښه انسان یم. – زه په خپل رفتار باندې د کار کولو لپاره ازادي ته اړتیا لرم. – زه د کارونو له بشپړولو سره مینه لرم. – زه د استقامت او پشتکار له نشتوالي څخه کرکه لرم. – زه د زیار او زحمت تومنه او شدت وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ لاسته راوړونکی شخص د موخو لپاره ناکراره وي. د ځان لپاره داسې دنده ولټوئ، چې وخت په وخت بېلا بېلې موخې بشپړې کړئ او دغه موخې روښانه هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ★ د مسلك د انتخاب په اوږدو کې چې څومره پړاوونه راځي، د هغو ټولو پړاوونو فهرست جوړ کړئ. ستاسو لپاره هر پړاو يو هدف کېدلی شي. که اړتيا شي، د مسلکونو له متخصص سره اړيکه نيول هم د يوه پړاو په توګه په پام کې ونيسئ. د هر پړاو له بشپړولو وروسته به د يو څه لاسته راوړنې احساس کوئ او د «لا ډېرو لاسته راوړنو تنده» به مو ورسره خړوبېږي.
- ★ د کار لپاره داسې چاپېريال ولټوئ، چې هره ورځ د خپلو وړتياوو د ښودو او د کاري استقامت د زياتولو فرصت درکول شي.
- ★ داسې ځانګې ولټوئ، چې ډېر زيات زيار و زحمت غواړي. په دغو مسلکونو کې په کار سره به مو دغه څواک مطمئنه وي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

د خرڅلاو استازی، بازارموندنه، راپور جوړوونکی، پروډيوسر، تدريس، تجارت، پوځي افسر...

## ۲- ترتيبوونکی (Arranger)

تاسو پرمخ وړونکي ياستئ. کله چې له داسې مغلق حالت سره مخ شئ، چې ګڼ فکتورونه پکې شامل وي، تاسو د ټولو اړخونو له مديريت او تنظيم څخه، له ترتيب او ترکيب څخه خوند اخلئ، تر هغو چې تاسو ډاډه شئ، چې هر څه د خپل امکان تر بريده په ګټور ساختار منظم او مرتب شوي دي. په خپل ذهن کې تاسو د خپلو کارونو په اړه کوم ځانګړی څه نه لرئ. خو د نورو خلکو چې له دغه څواکه بې برخې وي، ستاسو وړتيا ته په کتو خولې وازې پاتې وي. دوی به پوښتنه کوي، چې ته څنګه په يوه وخت کې دومره ډېر شيان په خپل ذهن کې ساتلی شې؟ څنګه دومره انعطاف پذيره او اماده يې، چې دومره ډېر پلانونه چې ناڅاپي ورسره مخ شوی يې، له يو نوي ترتيب سره اوډلی او تنظيم کولی شې؟ خو تاسو په بې نظمه توګه د چلند يا کار کولو اصلاً تصور نه شئ کولی. تاسو د اغېزناکې انعطاف پذيرۍ يوه روښانه بېلګه ياستئ، هغه که د خپل سفر مهالوېش بدلون وي، په دې چې د هوايي ليکو نرخونه را ښکته شوي او يا د يوې نوې پروژې لپاره د سمو خلکو او سرچينو د ترکيب اماده کول وي. له ساده مسايلو تر پېچلو موضوعاتو پورې، تاسو تل د بشپړ ترتيب په لټه کې ياستئ. له شک پرته، تاسو په ډاينامیکو او بدلېدونکو حالاتو کې تر ټولو ښه فعاليت کولی شئ. ځينې چې له ناڅاپي حالاتو سره مخ شي، نو ګيله کوي، چې پلانونه دومره په احتياط جوړ شوي، چې بدلون پکې ناشونی دی، او ځينې نور بيا په شته قوانينو او پروسو خپل زړه ډاډه کوي. خو تاسو له دې دواړو ډلې څخه نه ياستئ. په ځای يې تاسو د ابهام منځ ته ځان غورځوئ، نوي انتخابونه په لاره اچوئ، د کم مقاومت لرونکو نويو لارو پسې غوټې وهئ، او نوي شريکان او ملګري لټوئ – په دې چې تاسو باور لرئ، چې بلاخره امکان دې ولري، چې تر اوسنۍ لارې يوه بهتره او غوره لاره هم موجوده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه له ګڼو خوځنده شيانو سره ارامه يم. – زه يوه ډاينامیک چاپېريال ته اړتيا لرم. – زه له اقدام او د اړينو بدلونونو له مديريت سره مينه لرم. – زه له اړينو بدلونونو سره له مقاومت څخه کرکه لرم. – زه انعطاف پذيري او تعامل وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ په داسې چاپېريال يا ځانګه کې کار وکړئ، چې له وضع شويو قوانينو څخه بهر د کار کولو فرصت ولرئ، يعنې هره ورځ نوي څه وکړئ.

★ په داسې چاپېريال کې چې هلته مو پرلپسې مغلق مسايل مخې ته راځي، له کار کولو څخه به خوند واخلئ.

★ يو فهرست جوړ کړئ، چې په هغه کې د خپل کاري ځای د ښه والي لپاره چې کومې مشورې کوئ، هغه وليکئ.

★ داسې لارې ولټوئ، چې له نورو سره د لا زياتې مرستې وړتيا ومومئ.

★ نورو چې د ځان لپاره کومې موخې ټاکلې وي، په هغو ځان پوه کړئ او بيا پرې خبرې ورسره وکړئ.

★ په منظمه توګه بېلا بېلې غونډې تنظيم کړئ. په دې ډول به مو د ترتيب او تنظيم فطري وړتيا وځلېږي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

د سفرونو ايجنټ، د غونډو منتظم، د بشري سرچينو مدير، ارزيابي کوونکی، آډيټر...

## ۳- اعتقاد (Belief)

که تاسو د قوي اعتقاد له تيم يا ځواک څخه برخمن ياستئ، نو تاسو ځينې داسې بنيادي ارزښتونه لرئ، چې په هر حال کې خپل وجود برقراره ساتي. دغه ارزښتونه له يوه شخص نه بل ته فرق کولی شي، خو په عادي توګه د اعتقاد ځواک مو د دې سبب ګرځي چې کورنۍ محوره، په خپل وجدان باورمن او حتی روحاني شخص اوسئ، او خپلو مسؤليتونو او عالي اخلاقو ته د ارزښت په سترګه وګورئ – هغه که په ځان کې وي او يا نورو کې. دغه بنيادي ارزښتونه ستاسو پر چلند له مختلفو اړخونو اغېز شيندي. دغه ارزښتونه ستاسو ژوند ته معنا او اطمينان دربښي؛ ستاسو په اند، بريا تر پيسو او پرستيژ ډېر لوړ څه دی. دغه ارزښتونه تاسو ته لوری درکوي او د ژوند په لوړو ژورو او ورکو کې ستاسو لاسنيوی کوي او د ثابتو لومړيتوبونو په لور مو رهبري کوي. دغه ثبات ستاسو د ټولو اړيکو بنياد جوړوي. ستاسو ملګري تاسو ته د تکيې وړ انسان په سترګه ګوري. دوی وايي، مور پوهېږو، چې ته په خپل دريځ درېږې. ستاسو د اعتقاد له لاسه په تاسو ډېر په اسانه باور کېږي. دا اعتقاد د دې غوښتنه هم کوي، چې ځان ته داسې کار ولټوئ، چې ستاسو له ارزښتونو سره غاړه غاړې شي. د دې لپاره چې په ژوند کې مو معنا راشي، بايد کار وکړئ؛ کار ستاسو لپاره ډېر زيات اهميت مومي. تاسو د اعتقاد د ځواک له لوري رهبري

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږئ او يو کار ستاسو لپاره يوازې هغه مهال ارزښت لري، چې تاسو تـه لـه خپلـو ارزښـتونو سره د ژونـد کولـو فرصت درکړي.

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه له بنيادي ارزښتونو سره شديده لېوالتيا لرم او جوړجاړی ورباندې نه کوم. -زه د خپل ژوند لپاره يوه مقصد يا سبب ته اړتيا لرم. -زه د وجدان له غږ سره مينه لرم. -زه له هر هغه شي څخه کرکه لرم، چې زما له ارزښتونو سره ټکر خوري. -زه د ارزښتونو باور، وضاحت او ثبات وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې دنده ولټوئ، چې چاپېريال يې ستاسو له ارزښتونو سره جـوړ وي، مـثلاً د مـذهبي يـا خيريـه مرسـتو مؤسسه.

★ وخت په وخت د خلکو مرسته او خدمت وکړئ، تر څو ارزښتونه مو قوي شي. دا اطمينان هم درښيي.

★ داسې پلانونه په لاره واچوئ، چې د خپلو ارزښتونو د روزنې فرصت ترلاسه کړئ.

★ په کوم ښوونځي، يتيم خانه، روغتون يا بله اداره کې رضاکار خدمتونه وړاندې کړئ.

★ داسې ملګري جوړ کړئ، چې ارزښتونه يې ستاسو له ارزښتونو سره هماهنګه وي.

★ ستاسو له ارزښتونو څخه د مختلفو ارزښتونو لرونکو کسانو سره هم راشه درشه زياته کړئ، تر څو د نـورو د ارزښتونو په اهميت هم پوه شئ.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

په خيريه يا مذهبي اداره کې دنده، په روغتون کې خدمات، د ښوونځي معلم، پوليس يا پوځ...

## ۴- ثبات (Consistency)

تاسو ته انډول او توازن اهميت لري. تاسو د دې شي په اهميت ډېر ښه پوهېږئ، چـې خلکـو سره بايـد مسـاوي چلند وکړئ، هېڅ توپير نه کوي، چې په ژوند کې د هغوی مقام څه شی دی، له همدې امله تاسو نه غواړئ، چې هغه معيارونه او پرتلنې وکړئ، چې په هغو کې د يـوه شـخص لـوری نيـول کېـږي. ستاسـو پـه انـد، دغـه کـار د خودغرضۍ او يا فردګرايي سبب ګرځي او يوه داسې نړۍ منځته راوړي، چې هلته ځينې خلك د خپلو اړيکو يا مخينې له امله او يا دا چې په يوه ښه مقام کې دي، په ناعادلانه ډول ډېر څه وړي. دغه کار ستاسو لپـاره اصـلاً د زغم وړ نه دی او ځوروي مو. تاسو خپل ځان د دې شي په مقابل کې د ساتونکي په توګه وينئ. سره له دې چې د خاصو امتيازاتو له دې نړۍ سره مستقيم تضاد هم لري، خو تاسو په دې باور ياستئ، چې خلك په يـوه باثباتـه چاپېريال کې ښه وړتيا ښودلی شي، هلته چې قوانين واضح وي او په ټولو باندې په يو شان پـلي کېـږي. دا هغـه چاپېريال دی، چې خلك پوهېږي، چې له دوی توقعات څه دي او څه ترې غوښتل کېږي. دا ډول چاپېريـال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيش بيني وړ او په مساوي ډول پرمخ ځي. پر عدل ولاړ وي. دلته هر شخص د خپل ارزښت د ښودلو لپاره مساوي فرصت لري.

**د ځان په تړاو يې ځرګندونې:**

- زه د فردي غوښتنو په ځای د ډلې له اړتياوو سره ډېره دلچسپي لرم. –زه د کار لپاره معياري پروسيجرونو ته اړتيا لرم. –زه کټ مټ په يو رنګ د کارونو له ترسره کولو سره مينه لرم. –زه له بې ضرورته لاسوهنې او شخصي-سازي څخه کرکه لرم. –زه داسې قوانين او پاليسۍ وړاندې کوم، چې کلتوري پيش بيني زياتوي.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ داسې مسلک په ستاسو لپاره ګټور وي، چې له نورو سره د مرستې فرصت درکول شي او له کار او ژوند څخه مو خلک اغېزمن شي.

★ داسې اصول و ضوابط او ارزښتونه فهرست کړئ، چې غواړئ د هماغو مطابق خپل ژوند تېر کړئ. دغه اصول او ارزښتونو بايد نهايي خبره وي او هېڅ څوک يې د تبديلي او کمونې و زياتونې واک ونه لري.

★ که کوم څوک ښه وړتيا وښيي، نو د زړه له اخلاصه يې ستاينه وکړئ او لا ښه کېدو ته يې تشويق کړئ.

★ هغه خلک چې په سازمان کې د نورو پښې وهي يا په سازماني سياست کې ښکېل وي، هغوی په خپلو اخلاقو د ځان تابع کړئ. له هغوی سره د برخورد لپاره خپل معيار وټاکئ. خو، دې ته مو پام وي، چې ستاسو برخورد دومره نرم نه وي، چې دغه خلک ستاسو لپاره خطر وګرځي يا ستاسو خوش اخلاقي ستاسو بې عقلي وګڼي. توازن شرط دی.

★ د ځان او نورو په وړتيا تمرکز وکړئ. پام مو وي، چې ستاسو خوش اخلاقي د نورو د وړتيا د ضعيفېدو سبب نه شي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

پاليسي جوړوونکي، د کيفيت ارزونې خدمات، مالي محاسبه يا په مالي پورې تړلي کارمندان، د ګواښونو مديريت، پوليس، پوځ...

## ۵- سنجيده (Deliberative)

تاسو محتاط انسان ياستئ. په هر څه کې له احتياط څخه کار اخلئ. تاسو يو په ځان پورې منحصر-فرد ياستئ. تاسو پوهېږئ، چې نړۍ د نه پيش بيني ځای ده. هر څه منظم او مرتب ښکاري، خو تر برنۍ سطحې لاندې تاسو ګڼ خطرونه او ګواښونه حس کوئ. د دې په ځای چې له دغو ګواښونو انکار وکړئ، تاسو هر ګواښ را برسېره کوئ او بيرون يې راوباسئ. بيا کولی شئ، چې هر ګواښ تشخيص کړئ، ويې ارزوئ او بلاخره کم يې کړئ. نو، تاسو ډېر زيات سنجيده انسان ياستئ، چې له ژوند سره يو خاص برخورد کوئ. مثلاً، ستاسو خوښېږي، چې د راتلونکي لپاره پلان جوړ کړئ، تر څو دا معلومه کړئ، چې چېرته يوه تېروتنه يا غلطي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښېدلی شي. تاسو خپل ملګري په احتیاط انتخابوئ او کله چې خبره شخصي موضوعاتو ته ورسېږي، نو یوازې له خپل ځان سره مشاوره کوئ. تاسو د ستاینې او تعریف په برخه کې هم ډېر زیات محتاط یاستئ، تاسو وېرېږئ، چې هسې نه غلط برداشت ترې وشي. که خلک تاسو نه خوښوي، په دې چې تاسې د نورو په څېر پرجوشه نه یاستئ، نو وي دې، تاسو پورې اړه نه لري. ستاسو لپاره ژوند د شهرت او نوم کومه سیالي نه ده. ژوند تاسو ته د ماینونو ساحه ده. نور خلک که غواړي، بې باکه منډې دې پرې وهي، خو تاسو ډېر متفاوت لیدلوری لرئ. تاسو خطرونه تشخیصوئ، نسبي ارزښت یې اندازه کوئ، او بیا هر ګام ډېر سنجیده ږدئ. تاسو په احتیاط تګ کوئ.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه د احتمالي خطرونو ژور څېرونکی یم. - زه له خبرو مخکې غوږ نیولو او فکر ته اړتیا لرم. - زه د ګواښ پر وړاندې له احتیاط او مقاومت سره مینه لرم. - زه په قضاوتونو کې له بېړې څخه کرکه لرم. - زه محتاط او هر اړخیز روش وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ ستاسو لپاره داسې مسلک غوره دی، چې قانوني پلټنې او کاروباري خبرې اترې ولري یا د قانون سازي اړوند کارونه را ونغاړي.

★ په خپلو پرېکړو باور ولرئ، ځکه که کوم څوک اختلاف هم وکړي، تاسو د یوې مسئلې هغه اړخ لیدلی شئ، چې نور یې نه شي لیدلی.

★ کله چې نور خلک سختې پرېکړې کوي او مرستې ته اړتیا ولري، نو په تصمیم نیونه کې ورسره مرسته وکړئ. تاسو د یوې مسئلې د غوره منطقي تحلیل وړتیا لرئ.

★ زیاتره خلک ستاسو شخصیت نه شي درک کولی او و دې شي، په غلطو نومونو مو هم ونازوي. تاسو یې باک مه وړئ. تاسو په خپل ځان کې ګڼې ښېګڼې لرئ او نورو څخه بېل یاستئ.

★ خلکو ته وښیئ، چې تاسو د ګواښونو د تجزیې او د بدلون د منفي اغېزو د کمولو ډېر ښه استعداد لرئ.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

سیاسي یا دفاعي شناند، سمونګر، څېړونکی، ساینسپوه، د ګواښونو تحلیلګر، قاضي، د مالیې افسر...

## ٦- ډیسپلین (Discipline)

ستاسو نړۍ باید د پیش بیني وړ وي. نړۍ مو باید منظمه او له پلان سره سمه وي. د همدې لپاره تاسو وجداناً په خپلې نړۍ یو جوړښت نافذوئ. تاسو ورځني کارونه درته ټاکئ. په مهالوېشونو او وروستیو نېټو تمرکز کوئ. اوږدمهاله پروژې په مشخصو لنډمهاله پلانونو ماتوئ او هر پلان په ډېر زیار او استقامت مخته وړئ. ضرور نه ده، چې تاسو دې صفا سوتره اوسئ، خو دقت مو خوښ دی. تاسو چې د ژوند له دروني بې نظمي سره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شئ، ستاسو هیله دا وي، چې کنټرول مو په لاس کې وي. ورځنۍ چارې، مهالوېش، جوړښت، دا ټول له تاسو سره د دغه کنټرول په ترلاسي کې مرسته کوي. نور خلک چې د ډیسپلین له څواکه بې برخې وي، ځینې وختونه د نظم او ترتیب لپاره ستاسو له فکر نه بد وړي، خو ضرور نه ده، چې شخړه دې رامنځته شي. تاسو باید پوه شئ، چې ټوله دنیا د پیش بیني لپاره ستاسو هیله او ارمان نه احساسوي؛ هغوی د کارونو د سرته رسولو لپاره نورې لارې لري. دغه راز، تاسو هغوی د ساختمان او جوړښت لپاره په خپل ټینګار پوهولی شئ او ان مرسته ورسره کولی شئ، چې ستاسو دغه اړتیا ته د قدر په سترګه وګوري. ستاسو ناڅاپي زېري نه خوښېږي، تېروتنو ته هېڅ زغم نه لرئ، او روټینونه او د هر څه په اړه هر اړخیزه اندېښنه لرئ، خو اړتیا نشته، چې خلک دې ناسم برداشت وکړي او داسې وانګېري، چې ګواکې کنټرولوونکی چلند لرئ او غواړئ خلک بندیان کړئ. بلکې، کولی شئ، چې دغه چلندونه د خپل ځانګړي میتود په توګه ورته وښیئ، چې تاسو د ژوند د پام غلطوونکو اړخونو په مقابل کې د خپل پرمختګ او ګټورتیا لپاره استفاده ترې کوئ.

**د ځان په تړاو يې څرګندونې:**

- زه یو دقیق تنظیموونکی انسان یم. - زه کوټلي او سازمان شوي چاپېریال ته اړتیا لرم. - زه له منظمو او مرتبو شیانو سره مینه لرم. - زه له بې نظمي، ابهام او ناڅاپي پلانونو څخه کرکه لرم. - زه دقت او هراړخیز لیدلوری وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ په داسې ادارو کې دنده ولټوئ، چې قوانین او نظام يې کوټلی او منظم وي. داسې اداره چې پالیسۍ يې خورا روښانه وي.
- ★ خپل کارونه او شیان دوه درې ځله وګورئ او ځان یقیني کړئ، چې هر شی سل سلنه سم روان دي.
- ★ د وخت مدیریت فن زده کړئ، تر څو په شته وخت کې لا ډېر کار وکولی شئ.
- ★ د ځان لپاره داسې کوټلی نظام جوړ کړئ، چې په مټ يې د ټاکلو پایلو د ترلاسي امکان حد اکثر شي.
- ★ دا ومنئ، چې ستاسو د ټیم نور غړي له دومره ډیسپلین سره کار نه کوي، نو د هغوی د کار په میتود باندې د جر و بحث په ځای خپله توجه پایلو ته واړوئ.
- ★ خلکو ته وخت ورکړئ، چې ستاسو دغه وړتیا درک کړي او له دې اړخه د هغوی د استعداد په ښه والي کې مرسته ورسره وکړئ.
- ★ دا حقیقت هم ومنئ، چې د خپل مزاج له امله په وړه خبره هم غوسه کېدلی شئ. په اداره کې نور خلک ستاسو غوندې شخصیت نه لري، نو په ځان کې د زغم او صبر عادتونه پیدا کړئ.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

پیلوټ، د زړه یا ماغزو جراح، مالي محاسب، آډیټر، ترافیکي کنټرول، د مالیې متخصص، پوځ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷- تمرکز (Focus)

«په کومه خوا مې مخه ده؟» تاسو له ځانه همدا پوښتنه کوئ. تاسو هره ورځ له ځانه دغه پوښتنه کوئ. تاسو چې د تمرکز د تیم له لوري رهبري کېږئ، یوه واضح هدف ته اړتیا لرئ. که ویې نه لرئ، ستاسو ژوند او کار ډېر ژر ناهیلی کوونکی ګرځېدلی شي. له همدې امله، تاسو هر کال، هره میاشت او ان هره اونۍ ځان ته موخې ټاکئ. دغه موخې ستاسو لپاره د قطب نما نقش لوبوي، د لومړیتوبونو په ټاکلو کې مرسته درسره کوي او بېرته خپل اصلي مسیر ته د راګرځېدو لپاره اړین اصلاحات درکوي. ستاسو «تمرکز» په دې وجه ځواکمن دی، چې تاسو چاپېر او غورچاپېر ته مجبوروي؛ تاسو هر څه ارزوئ، چې آیا یو کار به خپلې موخې ته په رسېدو کې مرسته درسره وکړي که نه؟ هغه کارونه چې په دې برخه کې مرستندوی نه وي، له مخې یې لرې کوئ. په پای کې بیا ستاسو «تمرکز» تاسو مثمر کېدو ته مجبوروي. په طبیعي ډول، د دې تیم بل اړخ دا دی، چې تاسو مجبوروي، چې څنډونو او څنډونو ته هېڅ حوصله نه لرئ، هېڅ توپیر نه کوي، چې هر څومره زړه راښکونکي او دلچسپه هم وي. دا تیم له تاسو د خپلې ډلې خورا ارزښتناک غړی جوړوي. کله چې نور خلک په بېلا بېلو لارو کې سرګردانه او سرګومه ګرځي، تاسو یې بېرته اصلي مسیر ته را بولئ. «تمرکز» هر چاته دا ور یادوي، چې که یو چېرته یو شی خپل هدف ته په رسېدو کې ګټه نه در رسوي، نو بیا هغه شی مهم نه دی. او که مهم نه وي، نو بیا ستاسو وخت پرې نه ارزي. تاسو د ډلې هر غړی سیده او په خپل هدف متمرکز ساتئ.

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه ډېر زیات متحرک او متمرکز انسان یم. - زه د لومړیتوبونو ټاکلو لپاره یوې موخې ته اړتیا لرم. - زه مینه لرم، چې د پای په ذهن کې نیولو سره اقدام وکړم. - زه په ګډوډو او نامعلومو لارو له مزل څخه کرکه لرم. - زه د تمرکز او جهت په مرسته وضاحت وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

★ ستاسو لپاره په داسې ځانګه کې کار کول غوره دي، چې د کوم چا له مداخلې پرته په ازاد ډول کار وکولی شئ او د ټاکلو موخو د ترلاسي ماحول برابر وي.

★ داسې موخې وټاکئ چې وروستۍ نېټې یې معلومې وي او څنګه چې تاسو مخکې ځئ، تاسو ته به د خپلې ودې او پرمختګ اندازه هم لګېږي.

★ خپلې ټولې وړې او لویې موخې په کاغذ ولیکئ او اکثر یې لولئ تر څو دا احساس درسره وي، چې تاسو د موخو او اهدافو له مخې ژوند تېروئ. د دغه ډول شخص لپاره دا احساس ډېر زیات مهم دی.

★ خپلې لنډمهاله او منځمهاله موخې له خپل رئیس سره یادې کړئ تر څو د هغو د ترلاسي لپاره خپلواکي درکړي. تاسو تر دومداره نظارت لاندې کار نه شئ کولی.

★ د خپل کار او کور، دواړو لپاره وخت په وخت موخې وټاکئ. داسې به مو ژوند په یوه انډول برابر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**
مالي حسابونه، د میاشتنی یا ورځپاڼې سمونگر، جاسوس، د ودانیو جوړوونکی قراردادي...

## ۸- مسؤلیت (Responsibility)

ستاسو د «مسؤلیت» تیم تاسو مجبوروي، چې د هر هغه څه رواني ملکیت په لاس کې واخلئ، چې تاسو ورته ژمن یاستئ، او دا څه که کوچنی وي یا لوی، تاسو له احساساتي پلوه خپل ځان ور پورې تړلی احساسوئ، چې پای ته یې ورسوئ. په دې پورې ستاسو نوم او شهرت منحصر وي. که په کوم دلیل هغه کار ونه شئ کولی، تاسو خودبخود داسې لارې چارې لټوئ، چې بل کس ته یې وسپارئ. ښښنې ستاسو لپاره کفایت نه کوي. پلمې او دلیلونه تراشل ستاسو لپاره اصلاً د منلو وړ نه وي. تاسې تر هغو پورې په ژوند کې سمه ساه نه اخلئ، تر څو مو چې هغه کار سرته نه وي رسولی. په سمه توگه د کارونو د سرته رسولو لپاره ستاسو دغه وجداني کیفیت، دغه ژوره وابستگي او ستاسو نه ښوربېدونکي اخلاق په گډه تاسو ته دا شهرت در ببښي، چې تاسو خورا زیات د باور وړ شخص یاستئ. کله چې خلکو ته نوي مسؤلیتونه ور کول کېږي، نو هغوی لومړی ستاسو په لور در گوري، په دې چې هغوی پوهېږي، چې تاسو یې ارومرو پای ته رسوئ. کله چې خلکو تاسو ته مرستې ته راځي – او ډېر ژر به درته راشي – تاسو باید انتخابي واوسئ. د رضاکاري لپاره ستاسو رضامندي او چمتوالي ممکن ځینې وختونه د دې سبب شي، چې دومره کارونو ته اوږې ورکړئ، چې په وس به مو پوره نه وي.

**د ځان په تړاو یې څرگندونې:**
- زه داسې څوک یم، چې نور خلک د کارونو د ترسره کولو لپاره پرې باور کوي. – زه د ملکیت اخیستلو لپاره ازادي ته اړتیا لرم. – زه د نورو له درناوي سره مینه لرم. – زه له دې کرکه لرم، چې نور خلک خفه کړم یا مې نور خلک خفه کړي. – زه باورمنتیا او وفا وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ داسې کار یا اداره غوره کړئ، چې هلته تاسو پخپله کار وکړئ او کوم چا ته ځواب ویونکي ونه اوسئ. – که وي هم یو کس وي.
- ★ د کاري مرکې په جریان کې خپله دا وړتیا یاده کړئ، چې تاسو دا جرات لرئ، چې د یوې پروژې د ناکامي یا کامیابي مسؤلیت په لویه سینه، له هر ډول بانو او پلمو پرته ومنئ.
- ★ رضاکار خدمتونه وکړئ او د سختو کارونو چیلنج ومنئ.
- ★ په شرکت کې داسې ملگري وټاکئ، چې د مسؤلیت احساس ورسره وي.
- ★ خپل رئیس ته ووایئ، چې تاسو د یو چا له نظارت پرته ډېر ښه کار کولی شئ او تاسو پوښتنو گروېږنو ته اړتیا نه لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ★ ستاسو لپاره له کوم کار څخه معذرت غوښتل مشکل وي، نو ځکه د کارونو بوج دربانـدې زیاتېـدلی شي. نو، هر کار ته د اوږې ورکولو په ځای په ښو اخلاقو سره «نه» ویل زده کړئ. «نه» ویل مشکل کار دی، خو تاسو ورته ډېره زیاته اړتیا لرئ.
- ★ په داسې خلکو کې د تمرکز کمی وي، نو د کار په جریان کې په دې مهارت هـم کـار وکـړئ. داسـې بـه د بهتره نتایجو د ترلاسي جوګه شئ.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

قانوني مشاور، د کتابخانې مسؤل، پولیس افسر، ډایرکټر، ډاکټر...

## ۹- احیا کوونکی (Restorative)

ستاسو ستونزې او مسایل حلول خوښېږي. ځینې چې کله له یوې ماتې سره مخ شي، زړونـه یـې مـات شي، خـو تاسو له دې شي انرژي اخلئ. تاسو د علایمو او نښو د تجزیې، د تېروتنو په نښو کولو او حل لارې د مونـدلو لـه چیلنج څخه خوند اخلئ. ممکن ستاسو به عملي مسایل خوښېږي، یا نظري مسایل او یـا هـم شخصي- مسـایل. ممکن تاسو به یو خاص ډول مسایل لټوئ، چې تاسې پخوا هم څو ځله ورسره مخ شوي یاستئ او تاسې بـاوري یاستئ، چې حل به یې کړئ. او یا ممکن هماغه مهال به ډېر تحریکېږئ، چې کله له مغلقو او ناشـنا مسـایلو سره مخ شئ. خو ستاسو دقیق لومړیتوب ستاسو د نورو تیمونو او تجربو له مخې معلومېږي. خو یو شی واضـح دی، چې تاسو له دې خوند اخلئ، چې مړو مسایلو ته ژوند ور وبښئ. د پټو فکټورونو تشخیص، له منځـه وړل او یـا یو شی خپل اصلي عظمت ته ستنول یو ډېر عالي احسـاس دی. پـه درون کـې تاسـو پـوهېږئ، چـې ستاسـو لـه لاسوهنې پرته – دغه ماشین، دغه تخنیک، دغه شـخص، دغـه شرکـت – ممکـن لـه کـاره وغـورځي. تاسـو یـې سموئ، په کار یې اچوئ، او کارایي پکې را ژوندۍ کوئ. که ستاسو له لیدلوري سره سم دغـه لاسـته راوړنـه پـه الفاظو کې یادوو، نو ویلی شو، چې «هغه شی مو احیاء کړی دی.»

**د ځان په تړاو یې څرګندونې:**

- زه د درد او له کاره د غورځېدو له نکاتو څخه نه وېرېږم. – زه داسې مسایلو ته اړتیا لرم، چې حل لاره غواړي. – زه له حل لارو موندلو سره مینه لرم. – زه له دې تصور نه کرکه لرم، چې که مسایل له پامه وغورځول شي، نـو لـه مخې به لرې شي. – زه په لانجمنو حالاتو کې زړورتیا او نوښت وړاندې کوم.

**دغه ډول شخص ته څو مشورې:**

- ★ داسې مسلک غوره کړئ، چې د مسایلو د حل ښه ډېر فرصت په لاس درشي.
- ★ په یوه اداره کې د مشابه مسایلو د حل په وخت کې یو ډول عوامل په نظر کې ونیسئ. په دې سره مـو دغـه وړتیا وده کوي او د کار رفتار مو زیاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ★ خلکو ته له دې خبرې ډېره مه کوئ، چې ستاسو د مسایلو حل ډېر زیات خوښېږي او هر وخت مرستې ته اماده یاستئ. دغه صفت مو د خلکو زړونو ته ور نږدې کولی شي.
- ★ د کتابونو په مطالعې او کورسونو او سیمینارونو کې په ګډون سره خپل معلومات او مهارتونه زیات کړئ. داسې به مو دغه وړتیا هم وغوړېږي.
- ★ د رضاکار په توګه په یوه خیریه اداره کې خپل فارغ وختونه تېر کړئ، تر څو له دې وړتیا څخه مو اړمن خلک ګټه واخلي. دا به ډېره لویه نېکي وي.
- ★ د نورو مسایل تل مه حل کوئ. لومړی پرېږدئ چې هغوی هڅه وکړي. داسې به هغوی هم د زدکړې او پرمختګ فرصت ومومي.

**د دغه ډول شخص لپاره وړ مسلکونه:**

طب، کمپیوټري پروګرامليکنه، د مشتري خدماتو مسؤل، روزونکی...

**پای**

تبوک، سعودي عربستان

د نومبر ۲۶مه، ۲۰۲۳ز کال

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**